
# پښتانه د علامه اقبال په نظر کښې

Download from:aghalibrary





خیبر از مردان حق بیگانه نیست
د [illegible] هزار افسانه ایست

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF ACKU
4712

# پښتانه

د علامه اقبال په نظر کښې

دا یشیا په زړه کښې یو ساهو قوم پروت دی چه «پښتون» ئې بولی .
دغه قوم په افغانستان او پښتونستان کښې اوسېږی اودغې خاورې سره
د یره علاقه مندی لری.

دوی ځانله ملی عادات اوقوانین لری چه پښتو او پښتنواله ئې بولی .

د «پښتنولی» اساس د اسلام له مقرراتو سره موافق دی. هغه کسان چه د اسلام او
مسلمانی سره همدردی او علاقه مندی لری د دغه قوم نه بې علاقې نه شی پاته کېدلی.

په دغه لړ کښې علامه اقبال چه د شرق د بیدارۍ لوی علم بردار دی دغه
قوم ته په ډېر اهمیت کتلی دی .

ده د دې قوم فطری صلاحیتونه ئې ستایلی دی او دا یشیا په وجود کښې ئې د وی ته

د زړه حیثیت ور کړی دی .

د دوی غیرت، شهامت، صفائی او استعداد ئې د اسلام او مسلمانانو د ترقۍ سبب ګڼلی دی نو ځکه ئې د دوی د آزادۍ او ترقۍ ډېر ارمانونه څرګند کړي دي .

تاسی د دغو مطالبونو ئې په د غوښویانو کښې لوستلای شیء ! !

د ۱۳۳٤ د جوزا (۳۱) ـ کابل

عبد الله بختانی .

# علامه اقبال څوك ؤ؟

میرو میرزا به‌سیاست دل و دین باخته اند

جز برهمن پسری محرم اسرار کجا ست ؟ (اقبال)

مخ کښې ددې نه‌چه‌مونږ په‌خپل مطلب لاس پورې کړو دا به ښه‌وی چه څه نه څه له علامه اقبال او دده‌له افکارو سره آشنا شو .

که څه هم دعلامه اقبال شهرت ددې نه‌بې نیازه دی چه‌دلته ئی معرفی کړو ځکه چه‌دشرق هرسړی چه‌له شعراوادب سره‌علاقه‌او یا له‌فلسفې او سیاست سره آشنائی لری دده‌نوم به‌پیژنی او دده‌له‌اشعارو سره به بلدوی. هم دارنګه دده‌افکار په‌غربی دنیا کښې هم دخلکو دتوجه وړ ګرځیدلی دی او په علمی تولنو کښې ئې خلك په‌ښه‌نوم یادوی .

خو بیا هم دخپل بحث دتسلسل په‌نیت په‌لنډ صورت سره‌دعلامه‌اقبال‌معرفی کوو :

علامه دکشمیر دیوې معززی کورنۍ څخه دی‌چه‌نیکونه ئې په (۱۷) میلادی پیړۍ کښې په اسلام مشرف شوی‌دی او بیا ئې‌په‌دغه وخت کښې کشمیر پریښې دی اوپنجاب ته تللی دی.ددوی کورنۍ داسلام له مذهب سره دېره‌مینه‌لرله اودغې مینې په‌رڼا کښې د۱۲۸۹ه کال دلوی اخترپه (۲٤)ددوی په کورنۍ کښې داقبال‌ستوری وځلیدا و شرق‌وغرب ته‌ئې‌ورانګې خپرې کړې، په‌دې‌نوی‌ستوری باندې دمور له خوا (محمداقبال)نوم کښېښودل شواو دتقوی، عفت او محبت په‌غیږ کښې لوئیده‌ترڅو چه دعلم اواد ب په‌آسمان کښې هغه مقام ته‌ورسید چه دائې دزړه ترجمانی کېدلی‌شوای .

دل‌من در کشادچون‌وچند است

نګاهش ازمه‌وپروین بلنداست

# د اقبال نظریات

د علامه اقبال د نظریاتو په باره کښې ایم' اې محمد طاهر فاروقي په «سیرت اقبال» کښې داسې وائي:

«د علامه سید جمال الدین افغان او علامه مفتي محمد عبده نه ورو سته اقبال یو واحد شخصیت دی چه د مشرق د بیدارۍ د پاره او د دې د پاره چه انسانیت پریوه مرکز را تول شي غېز جګ کړی دی.»

که مونږ د اقبال په اشعارو او آثارو باندې یو عبوري نظر واچوو نو دا مطلب تر پنه اخستلي شو:

اقبال د انسان او انسانیت سره ډېر همدرد دی او له اودې درد دی نا قلاره کړی ؤ.

اقبال د انساني نړۍ د ټولو بدبختیو علت العلل په شرق باندې د غرب تسلط او استعمار بولي او دغه استعمار د واړو خواؤ ته مضر ګڼي لکه چه وائي:

الحذر از جبر و هم از خوی صبر　　　جابر و مجبور را زهر است جبر
این به صبر پیهمی خوگر شود　　　آن به جبر پیهمی خوگر شود

هردو را ذوق ستم گردد فزون
ورد من «یالیت قومی یعلمون»

د دې د پاره چه شرق د غرب د استعمار نه خلاص شي نو اقبال توصیه دا ده چه شرقیان دې خپله «خودی» تکمیله کړي او خپل ځان دې د ځان کړي، د غرب تقلید دې و نه مني او خپل موجودیت دې ثابت کړي، خپل تېر ثقافت دې بېرته ژوندی کړي او د خپل نوي تهذیب اساس دې ور باندې ودروي.

هو! په مشرق کښې مسلمانان ډېر دي او په اسلام کښې دژوند انه هغه مهم دساتیر موجود دي چه دیو انساني تمدن اساس ور باندې ایښود لی شي نو ځکه دي داسلامي دولتونو یوځای کېدل او د مسلمانانو اصلاح د شرق د ترقۍ عامل او ددنیا دامنیت ساتونکی بولی .

دغرب سعادت هم په دې کښې بولي چه هغوی د صرف مادي خوا هشاتو دمریي توب نه لاس واخلي او دحق او حقیقت هغه معنوي مقام ته قائل شي چه هلته د ګېډې داحترام په ځای دانسان او انسانیت احترام کېږي .

که دي غرب ته په ډېرو اشعارو کښې الزامي خطاب کوي شرق او شرقیانو ته ئې هم دهمدردۍ ناري کړي دي او په دې لړ کښې ئې پښتنو ته ډېر څه ویلي او ددغه قوم په فطري استعداد او ذاتي لیاقت باندې ئې ډېره امیدواري ښکاره کړې ده او ددوی په موجوده بد بختیو باندې ئې ډېر ژړلي دي .

تاسي به دغه ټول مطالب په راتلونکو کرښو کښې ولولئ !

# پر مغرب باندې انتقاد

عجب آن نیست که اعجاز مسیحا داری.
عجب این است که بیمار تو بیمارتر است (اقبال)

داقبال د «پیام مشرق» یوه د پره مهمه برخه د «نقش فرنگ» ترعنوان لاندې ده او سرې دغې برخې ته داعنوان هم ور کولی شي چه: «مغرب ته خطاب» د لته خپل مطلب داسې شروع کوي:

از من ای باد صبا گوی بدانای فرنگ
عقل تا بال کشود است گرفتار تر است
برق را این به جگر می زند آن رام کند
عشق از عقل فسون پیشه جگر دار تر است
چشم جز رنگ گل و لاله نه بیند ورنه
انچه در پردهٔ رنگ است پدیدار تر است
عجب آن نیست که اعجاز مسیحا داری
عجب این است که بیمار تو بیمار تر است
دانش اندوختهٔ دل ز کف انداختهٔ
آه زان نقد گرانمایه که در باختهٔ

دی په موجوده حکمت او فلسفه باندې ځکه اعتراض کوي چه د عشق او مینې نه لېرې دی او وائی:

حکمت و فلسفه کاریست که پایانش نیست
سیلی عشق و محبت بد بستانش نیست

دی حکمت او فلسفه دپوهو خلکو گمراه کوونکی بولی:

بیشتر راه دل مردم بیدار زند
فتنهٔ نیست که در چشم سخندانش نیست

ددغو نحو نوچاره عشق او هغهٔ ته غاړه ایښودل بولی:

چاره این است که از عشق کشادی طلبیم
پیش او سجده گزار یم و مرادی طلبیم

ددغو اشعارو نه دې څوك دا اشتباه نه کوی چه علامه دعلم او پوهې سره دعقل، حکمت او فلسفې له اهمیته منکر دی او غواړی چه نور خلك هم محض په شاعرانه احساساتو تر بیته و گرځوی.

هیڅکله داسی نه ده، بلکه علامه انسان ته عقل ضرور بولی خو دا سې عقل چه دخوب او خوراك له تیارونه پورته دعشق او مینې په سره اور کښې صیقل شوی وی.

ځکه دد غسې عقل خاوندان پوهیږی چه هغسی عقل یعنی هغه چه بل ته دخوب وروستلو او یا ځانته دخوراك دتیارولو چمونه ښیی دا سې عقل خو نور حیوانات هم لری، خو دحیوان عقل به ددوی دخوراك غوندې نه وی بلکه لږ به خام وی او دانسان دخورا کې عقل به دده دخوراك د کم او کیف په معیار څه پوخ وی خو علامه اقبال دانسان او انسانیت دپاره انسان ته یو لوړ عقل او پوهه غواړی چه دهغه په ذریعه سړی دخودبینۍ له تورو خاورو نه دجهان بینۍ هسك ته ختلی شی لکه چه وائی:

عقل خودبین دگرو عقل جهان بین دگراست
بال بلبل دگرو بازوی شاهین دگر است

دگر است انکه بردا نۀ افتاده ز خاك
انکه گیردخورش ازدانۀ پر وین دگراست
ای خوش آن عقل که پهنای دوعالم با اوست
نورافرشته و سوز دل آدم با اوست

همدارنکه ئې په عشق کښې نظریه خرگندده اوهغه عشق او معا شقه چه دما دی بوالهوسیو اوشهواتو دتامین دپاره په انسان کښې داسې احساسات وښو روی چه دهغه په اثردمینې بزم دد ښمنۍ په رزم بدلشی نه خوښوی او په دغسې مغزلی اومادی عشقباندې انتقاد کوی :

عشق گردیدهوس پیشه وهر بند گسست
آدم از فتنۀ او صورت ماهی در شست
رزم بربزم پسندید و سپاهی آراست
تیغ اوجز به سرو وسینۀ یاران ننشست

هغه سیا ستونه چه ددغسې مادی لذاتو ترتاثیر لاندې وی داسی غندی :

رهزنی را که بنا کرد جهانبانی گفت
ستم خواجگی او کمر بنده شکست
بی حجابانه ببا نگ دف و نی میر قصد
جامې ازخون عزیزان تنك مایه بدست

دی‌غواړی چه دغه‌غبز ته چه‌ددغسې تهذیب دفجایعو له لاسه دا نسا نیت له‌اعماقو نه‌خیژی داسې لبیك‌و وائی:

وقت آنست که آئین دگر تازه کنیم
لوح دل پاك بشوئیم وز سر تازه کنیم

او خپل ملګری داسی مخاطب کوی:

چشم بکشای اگرچشم تو صاحب‌نظر است
زندگی در پی تعمیر جهان دگر است

بیا هم انسانی نړی‌ته‌خپله امیدواری څرګندوی او وائی:

من درین خاك گران گوهرجان می بینم
چشم هرذره چو انجم نگران می بینم

او دانسانیت دآیندې دپاره داسې پیشګوئی کوی:

آنچه‌بوداست‌و نبایدزمیان‌خواهد رفت
آنچه‌بایست‌و نبود است همان خواهدبود

# مشرق ته خطاب

مشکل این نیست که بزم از سر هنگامه گذشت
مشکل این است که بی نقل و نبید یمند همه
ای اسیر رنگ پاك از رنگ شو
مؤمن خود کافر افرنگ شو

(اقبال)

علامه اقبال دشرقیانو لویه غلطی دغربیانو تقلید گڼی او دغه تقلید دغربی استعمار مهم علت بولی :

شرق را از خود برد تقلید غرب
باید این اقوام را تنقید غرب

دکور کورانه تقلید نتیجه دا گڼی چه دسړی نه اصل پاته شي او فرع و نیسی او دتن اسانی خوی پکښې قوی شی نو ځکه گرانو کارونو ته نه وراندې کېږی او خپل ژوند په ساعت تیریو کښې تلفوی لکه چه وائی :

بندهٔ افرنگ از ذوق نمود — می برد ازغربیان رقص و سرود
نقدجان خویش در بازد به لهو — علم دشوار است می سازد به لهو
از تن اسانی بگیرد سهل را — فطرت او در پذیرد سهل را

سهل را جستن درین دیر کهن
این دلیل انکه جان رفت از بدن

دعلامه اقبال لوی مقصد دشرق بیداری ده او په دغه باره کښې یوه ځانگړې مثنوی د«پس چه باید کرد ای اقوام شرق» ترعنوان لاندې لری.

په دغه کتاب کښې شرقیان ځان ساتلو ته متوجه کوی او په عین حال کښې ددوی د موجوده بیدارئ نه خپله خوښی ظاهر کړیده :

ادمیت زار نالید از فرنگ — زندگی هنگامه برچید از فرنگ
پس چه باید کرد ای اقوام شرق — باز روشن می شود ایام شرق
در ضمیرش انقلاب آمد پدید — شب گذشت و آفتاب آمد پدید
یورپ از شمشیر خود بسمل فتاد — زیر گردون رسم لادینی نهاد
گرگ اندر پوستین بره — هر زمان اندر کمین بره
مشکلات حضرت انسان ازوست — ادمیت را غم پنهان ازوست
در نگاهش ادمی آب و گل است — کاروان زندگی بی منزل است

ورسته بیا شرقیانو ته داتوصیه کوی چه د غرب د تقلید خالو نه دې پخپل جبین باندې و نه منی او د پردیو له رنګ نه دې ځانونه بالکل پاک کړی :

ای اسیر رنګ پاک از رنګ شو — مومن خود کافر افرنګ شو

دوی دې خبرې ته ملتفت کوی چه که تاسې څه و کړئ نو هر څه کولی شئ په دې شرط چه په ځان و یساولرئ او دیو والی په قوت دپردو د جغ نه خلاصې کړئ :

رشتهٔ سود و زیان در دست تست — آبروی خاوران در دست تست
این کهن اقوام را شیرازه بند — رایت صدق و صفا را کن بلند
اهل حق را زندگی از قوت است — قوت هر ملت از جمعیت است

دلته داخبره هم واضح کوی چه بوازی قوت هم څه نه شی کولی څو چه فکر او رایه ورسره یو ځای نه شی لکه څرنګه چه بی قوته فکر او رایه څه معنا نه لری :

رأی بی همت همه مکر و فسون
قوت بی رأی جهل است وجنون

شرق دغرب استعمار ته داسې متوجه کوی:

دانی از افرنگ واز کار فرنگ
تا کجا در قید زنار فرنگ

زخم ازو نشتر ازو سوزن ازو
ما وجوی خون وامید رفو

او دشرقیانو توجه خپلو ځانونو ته اړوی چه خپله خمتا دپردوله ورپښمین تو کرنه ښه وړ کڼی:

گر تومیدانی حسابش را درست
از حریرش نرم تر کرباس تست

بی نیاز از کارگاه او گذر
در زمستان پوستین او مخر

ضمناً دا نظریه «چه مهاتما گاندهی هم داسې نظریه لرله» څرگندوی چه ماشین دانسان دبدبختۍ سبب دی ځکه چه یوځومحدود کسان پکښې کار کوی اود پروخلکو لاس له کاره ووځی او داعاشې لارور باندې بندیږی لکه چه وائی:

کشتن بی حرب و ضرب آئین اوست
مرگها در گردش ماشین اوست

نوځکه دوی دخپلولاسی صنایعو په اهمیت پوهوی:

بوریای خود به قالینش مده
بیدق خود را به فرزینش مده

او د نورو دمصنوعاتو دظاهر فریبۍ نه ئې هم خبروی:

رهزن چشم تو خواب مخملش
رهزن نورنگ و آب مخملش

صد گره افگندهٔ در کار خویش
از قماش اومکن دستار خویش

هوشمندی ازخم او می نخورد | هر که خورد اندرهمین میخانه مرد
وقت سودا خندخندو کم خروش | ماچو طفلانیم او شکر فروش

نود دغو تولو خبرو علاج یوازې په ځان ویساښیی او وائی :

آنچه ازخاك تورست ای مرد حر | آن فروش و آن بپوش و آن بخور
آن نکوبینان که خود را دیده اند | خود گلیم خویش را بافیده اند

او دا ځکه چه دشرق دغفلت نه ددوی خپل شیان په دوی باندی خرڅیږی اودادوی په زیان اودنورو په گټه تمامیږی، نو ځکه ئې وروستی خطاب دادی :

ای زکار عصر حاضر بی خبر | چرب دستیهای یوروپ را نگر
قالی از ابریشم تو ساختند | باز او را پیش تو انداختند
چشم تو ازظاهرش افسون خورد | رنگ و آب او ترا از جا برد
وای آن دریا که موجش کم تپید | گوهر خود را زغواصان خرید

علامه اقبال یوازې په اقتصادی نظریه نه بلکه په عرفانی او ثقافتی اساس هم شرقیانو ته دخودی درسونه ورکړی دی اودوی ته ئې دغرب مکتبی علم بدگڼلی دی اودائی هم ددوی دخودی دورته کولو سبب بللی دی :

گرچه مکتب کا جوان زنده نظر آتا هې
مرده هې مانگ کې لایاهی فرنگی کا نفس

یعنی: «دمکتب ځوان ژوندی ښکاری، دی مړ دی، خودپیر نگی په ساه خوځیږی»

یاداچه:

افرنگ ز خود بیخبرت کرد و گرنه
ای بندهٔ مومن تو بشیری، تو نذیری

# پښتنو ته !

شکوه کم کن از سپهر لاجورد
جز به گرد آفتاب خود مگرد

دمخکښې بحث نه ثابتیږي چه علامه اقبال دشرق داستعمار دناروغتیا علت ښه تشخیص کړی دی او ښه پوره دوائی هم ورښودلی ده او شرقیانو ئې دحریت لارې ته بللي دي.

په دغه لړ کښې ئې عموماً شرقیانو ته د پرخه لیکلې او ځانله ځانله ئې دشرق داقوامو او ملتونو سره هم څه ویلي او لیکلي دي.

مونږ ده دعمومي مخاطبونه یوڅه مخکښې ورانديې کړه او دخصوصي توصیو او نظریو نه یوازې هغه برخه انتخابوو چه هغه زمونږ ددې کتاب د مطالب روح دی.

هغه داچه علامه اقبال دشرق دټولو اقوامو په لړ کښې پښتنو ته په ډیر اهمیت قایل دی او ددوی دذاتي او فطرتي استعداد، لیاقت او کفایت ستاینه ئې ډیره کړې ده، ددوی رجال او نوابغ ئې هر ځای په احترام یاد کړی دی او ددوی ملك او خاورې ته ئې په ډیر درانه نظر کتلي دي. حق دادی چه ددوی حق ئې ښه ادا کړی دی نو ځکه دی پر پښتنو باندې ډیر حق لري.

دشرق دآزادۍ په لار کښې ئې دپښتون ملت او ددوی خاورې مرکز په حیث او دایشیا آزادي ئې د دوی په آزادۍ پورې مربوطه گڼلې ده.

ددوی په ذاتي استعداد او نفسیاتي متانت او قوت باندې ئې پوره اعتماد ښکاره کړی دی او ددوی آینده ئې ته ډیر امیدلري.

دا ټول مطالب به وروسته راشي اوس دده هغه دعمدردي ناري چه د غه قوم ته ئې کړې دی وزاندې کيږی:

که دیوې خوانه دژوند اوسیاست په صحنه کښې داقوم پېرته ګوری دبلې خوانه ددوی په همت، شجاعت، حوصله، عزم اومعنوی ذاتی استقلال کښې څه کمی نه وینی نوځکه په دې ترانه کښې دخودی در س ورته ور کوی:

(۱)

رومی بدلی، شامی بدلی، بدلاهندوستان

توبهی ای فرزند کهستان، اپنی خودی پهچان

اپنی خودی پهچان

او غافل افغان

ترجمه: « رومی اوشامی بدل شو، هندوستان بدل شو

ته هم ای د غره ځویه! ـ خپله خودی وپېژنه!

خپله خودی وپېژنه! ای غافل پښتونه! »

(۲)

موسم اچها، پانی وافر، مټی بهی زرخیز

جس نی اپنا کهیت نه بویا، وه کیسادهقان

اپنی خودی پهچان

اوغافل افغان

ترجمه: « موسم ښه دی، او به ډېرې دی، خاوره زرخېزه ده

که دې نه استفاده ونه کړې نه به څنګه دهقان ئې؟

خپله خودی وپېژنه! ای غافل پښتونه! »

(۳)

اونچی جس کی لہر نہیں ہی وہ کیسا دریا

جس کی ہوائیں تند نہیں ہیں وہ کیسا طوفان

اپنی خودی پہچان

او غافل افغان

ترجمه: «چه موج ئې تېز نهوی دا څه سیند دی؟

چه هوائی تندنه وی دا به څه طوفان وی؟

خپله خودی و پېژنه! ای غافل پښتونه!»

(٤)

ڈھونڈ کې اپنی خاک مېں جس نی پایا اپ

اس بندی کی دہقانی پر سلطانی قربان

اپنی خودی پہچان

او غافل افغان

ترجمه: په خپلو خاورو کښې چه چا ځان ولټاوه او پیدائې کړ

دغه بنده له دهقانۍ د سلطانۍ قربان وی!

خپله خودی و پېژنه! ای غافل پښتونه!

(٥)

تېری بی علمی نی رکھ لی بی علموں کی لاج

عالم فاضل بیچ رہی ہیں اپنا دین ایمان

اپنی خودی پہچان

او غافل افغان

ترجمه : ستا بې علمۍ دبې علمانو عزت و ستا ته

عالم ، فاضل پلوري خپل دین ، ایمان

خپله‌خودي وپېژنه!

اي غافل پښتونه!

دپښتنو رندانه جرئت ته داسې اشاره کوي :

بې جرئت رندانه هر عشق هې روباهي

بازوهی قوی جس کا وه عشق ید إلهي

ترجمه : «بې درندانه‌جرئت څخه عشق دګيدړو اله ده ، د قوي مټو له

عشق سره دخداي دقدرت لاس وي .»

جو سختیء منزل کوسامان سفر سمجهی

ای وای تن آسانی نا پید هی وه راهی

ترجمه: «دمنزل سختۍ دسفر سامان ګڼي ، افسوس دي وي پر تن آسانۍ

باندې چه دلاروی‌نه لار وره کوي .»

وحشت نه سمجهه اس کوای مردك میدانی

کهسار کی‌خلوت هی تعلیم‌خود آکاهی

ترجمه : «اي دمیدان مېړه ! داوحشت مه ګڼه ! ځکه چه د کهسار

خلوت دځان پېژندلو تعلیم‌دی .»

دپښتنو همت په‌دې کښې ګڼي چه دوی په‌غلامۍ نه‌راضي کېږي :

باز نه هو کا کبهی بندهٔ کبك وحمام

حفظ کی‌بدن لئی‌روح کو کردو نه‌هلاك

ترجمه : « بازد زرکي او کوترې غلامي نه کوي ، دبدن سائل روح وژني . »

ای میری فقر غیور فیصله تیرا هی کیا ؟
خلعت انگریز یا پیرهن چاك چاك ؟

ترجمه : «ای زماغیرتی فقره ! ستا فیصلة څه ده؟
دانگریز خلعت یاشیرې څیری کمیس ؟ »

دتیر تاریخ په استناد ، ددوی داستعداد په اتکاء ددوی د دوام شهادت داسې ادا کوی :

کړ کاسکندر بجلی کامانند تجهه کوخبرهې ای مرگ نا گاه

ترجمه : «سکندر لکه بریښناغوندې کړ یکه وکړه ، خو ددې ځای دناڅاپی مرگ نه خبر نه ؤ . »

نادرنی لوټی دلی کی دولت الك ضرب شمشیر افسانه کوتاه

ترجمه : «نادر (افشار) دډیلی دولت ونیو ، د توری یو ګذار یې دا قصه لنډه کړه !!»

افغان باقی کهسار باقی
الحکم لله ، الملك لله

ترجمه : «پښتون به باقی وی دادخدای حکم دی ، غرونه به باقی وی دا دخدای ملك دی . »

(د الف ونشر مرتب په اعتبار ترجمه شوه)

دپښتنو طبیعی ژوند دبنیادم دحقیقی فطرته سره سم کڼی او ددوی دالور فطرت دغسې ښیی :

فطرت کی مقاصد کی کرتاهي نگهبانی
یا بندهٔ صحرائی یا مرد کهستانی

ترجمه : «دفطرت دمقاصدو ساتنه یادرغوسړی کوی اویادغروسړی.»

یه حسن ولطافت کیون وه قوت وشوکت کیون
بلبل چمنستانی ، شهباز بیابانی

ترجمه : «داحسن اولطافت څله ، هغه قوت او شوکت ولی ؟ چه بلبل په چمن کښې اوشهباز به په بیدیا کښې وی.»

ای شیخ بهت اچهی مکتب کی فضالیکن
بنتی هی بیابان می فاروقی وسلمانی

ترجمه : «ای شیخه ! دمکتب فضا ډیره ښه ده ، خود فاروق او سلمان کېدلو ځای بېدیا ده.»

دتولو نه دلچسپ پښتنو ته ددهغه خطاب دی چه دافغانستان په سفر کښې ئې دسرحدپښتنو ته کړی دی اودده په «مسافر» نومی کتاب کښې لیکلی دی په دغه خطاب کښې دخودی درس ، دیووالی توصیه ئې کړنده ده.

دی دپښتنو دموجوده بدبختیو مهم علت دا ګڼی چه دوی ځان نه پیژنی نوځکه په دغه مطلب خپله خطابه داسی شروع کوی :

ای زخود پوشیده خود را بازیاب — در مسلمانی حرام است این حجاب
رمز دین مصطفی دانی که چیست — فاش دیدن خویش را شاهنشهی است
چیست دین دریافتن اسرار خویش — زندګی مرګ است بی دیدار خویش
آن مسلمانی که بیند خویش را — از جهانی برګزیند خویش را
از ضمیر کائنات آګاه اوست — تیغ لا موجود الا الله اوست

در مکان ولا مکان غوغای او    نه سپهر آواره در پهنای او
تا دلش سری ز اسرار خدا ست    حیف اگر از خویشتن نا آشنا ست
بندهٔ حق وارث پیغمبران
او نگنجد در جهان دیگران
تا جهان دیگری پیدا کند    این جهان کهنه را برهم زند
زنده مرد از غیر حق دارد فراغ    از خودی اندر وجود او چراغ
پای او محکم بر زم خیر و شر    ذکر او شمشیر و فکر او سپر
صبحش از بانگی که برخیزد زجان    نی ز نور آفتاب خاوران
فطرت او بی جهات اندر جهات    او حریم و در طوافش کائنات
ذرهٔ از گرد راهش آفتاب    شاهد آمد بر عروج او کتاب
فطرت او را کشاد از ملت است    چشم او روشن سواد از ملت است

دلته له دوی شخه غواړی چه داستعمار کړی ماتې کړی او خپل ملی یوالی او ملی حکومت تاسیس کړی:

اند کی گم شو بقرآن و خبر    باز ای نادان به خویش اندر نگر
در جهان آواره ای بیچاره ای    وحدتی گم کرده ای صدپاره ای
بند غیر الله اندر پای تست    داغم از داغی که در سیمای تست

دلته دوی دېر دېر مکر او فریب ته ملتفت کوی او ډېر تاکید کوی چه دپښتنو لیء روح وساتیء

میرخیل! از مکر پنهانی بترس    از ضیاع روح افغانی بترس

وروسته بیا د مولانا بلخی د خولې نه دوی ته دا خبره واضح کوی چه

دمادیت پرستئ بتان دي مات کړی او حق او معنویت دي ټینګ کړی او وائی :

ز آتش مردان حق مي سوزمت　　نکتهٔ از پیر روم آموزمت

« رزق از حق جو مجو از زیدو عمر
مستی ازحق جو مجو از بنګ و خمر
ګل مخر ، ګل رامخور ، ګل را مجو
زانکه ګل خوار است دائم زرد رو
دل بجو تا جاودان باشی جوان
از تجلی چهره ات چون ارغوان
بنده باش و بر زمین او چون سمند
چون جنازه نی که بر ګردن برند »

بیادوی په دي یوهوی چه دوی هرڅه غواړی دځپل ځان نه دي وغواړی او دآسمان او ځمکي نه دي څه شکایت ونه کړی :

شکوه کم کن از سپهر لاجورد　　جز بګرد آفتاب خود مګرد
از مقام ذوق و شوق آګاه شو　　تیغ لا مو جو دالا الله شو
عالم موجود را اندازه کن　　درجهان خودرا بلند آوازه کن

برګ وساز کائنات از وحدت است
اندرین عالم حیات از وحدت است

بیاد پښتنونه دنوی آرزو ، آرزو کوی ، هغه آرزو چه د ژوند اساس او د خودی د مقیاس کیدلی شی ، هغه آرزو چه انسان د انسانیت کمال ته رسوی او خودی ئې تکمیلوی :

درگذر از رنگ و بو های کهن  پاک شو از آرزو های کهن

این کهن سامان نیرزد با دوجو  نقشبند آرزوی تازه شو

زندگی بر آرزو دارد اساس  خویش را از آرزوی خود شناس

چشم و گوش و هوش تیز از آرزو  مشت خاکی لاله خیز از آرزو

هر که تخم آرزو در دل نه کشت  پایمال دیگران چون سنگ و خشت

آرزو سرمایهٔ سلطان و میر  آرزو جام جهان بین فقیر

آب و گل را آرزو آدم کند  آرزو ما را ز خود محرم کند

چون شرر از خاک ما برمی جهد  ذره را پهنای گردون می دهد

پور آذر کعبه را تعمیر کرد
از نگاهی خاک را اکسیر کرد
تو خودی اندر بدن تعمیر کن
مشت خاک خویش را اکسیر کن

# دافغانستان سفر

تا کجادر بندها با شی اسیر

تو کلیمی راه سینائی بگیر

علامه اقبال دا علیحضرت محمد نادر شاه شهید (رح) د بلنې سره سم د۱۹۳۳ م کال دا کتوبر په اواخرو کښې افغانستان ته دپېښور او خیبرله لارې راغلی دی اود کابل ، غزنی اوقندهار د لیدلونه وروسته بېرته تللی دی . په دې سفر کښې سرراس مسعود اومرحوم سیدسلیمان ندوی هم ورسره ملګری وو۔ په کابل کښې دشهید اعلیحضرت مېلمه و، او خوازه ملا قاتونه او صحبتونه ئې ورسره کړی دی . د کابل د عربی دارا لعلوم په پرو ګرام کښې ئې هم نظریه ور کړې ده اوپه دی پرو ګرام کښې ئې فکر ډېر د خیل دی .

د کابل دادبی انجمن له خوا ئه هم ورته یوه شانداره مېلمستیا شوې وه چه دافغانستان ډېر فضلا، پوهان اومشران ورته بلل شوی وو .

ده د خپل د غه سفر رنګین خاطرات دیو کتاب په صورت د «مسا فر» ترعنوان لاندې لیکلی دی . ددې کتاب دهرې مسرې نه دپښتون اوپښتو نخوا په نسبت دده دمینې نښه جذبات څرګندېږی

ده دغه کتاب داسې شروع کړیدی :

نا در افغان شهٔ درویش خو رحمت حق بر روان پاک او

کار ملت محکم از تدبیر او حافظ دین مبین شمشیر او

چون ابوذر خود گداز اندر نماز | ضربتش هنگام کین خارا گداز
عهد صدیق ازجمالش تازه شد | عهد فاروق ازجلالش تازه شد
از غم دین در دلش چون لاله داغ | در شب خاور وجود او چراغ
در نگاهش مستی ار باب ذوق | جوهرجانش سراپا جذب و شوق
خسروی شمشیر و درویش نگه | هر دو گوهر از محیط لا اله
فقر و شاهی واردات مصطفی است | این تجلیهای ذات مصطفی است
این دو قوت از وجود مؤمن است | آن قیام و آن سجود مؤمن است
فقر سوز و درد و داغ و آرزو است | فقر را در خون تپیدن ابرو است
فقر نادر اندر خون تپید | آ فرین بر فقر آن مرد شهید
ای صبا ای ره نورد تیز گام | در طواف هر قدش نرمك خرام
شاه در خواب است پا آهسته نه | غنچه را آهسته تر بکشا گره
از حضور او مر افزمان رسید | آنکه جان تازه درخاکم دمید

دغو بیتونو نه د علامه اقبال ښه عقیدت دشهید اعلیحضرت په نسبت ښه څرگند یږی ، وروسته بیا داعلیحضرت دبلنې تعبیر په دې عباراتو کوی :

سوختیم از گرمی آواز تو
ای خوش آن قومی که داند راز تو
از غم تو ملت ما آشنا ست
می شناسیم این نواها از کجا ست
ای به آغوش سحاب ما چو برق
روشن و تابنده از نور تو شرق

PROPERTY OF ACKU 4712

یك زمان در کوهسار ها درخش
عشق را باز آن تب و تابی به بخش
تا کجا در بند ها باشی اسیر
تو کلیمی راه سینائی بگیر

په افغانستان کښې «مسافر» بیا د خپل سفر داستان داسې شروع کوي:

طی نمودم باغ و راغ و دشت و در
چون صبا بگذشتم از کوه و کمر

## خیبر

خیبر هغه دره ده چه نورو مسافرینو او سیاحینو غوندې د علامه اقبال پوره توجه ئې هم ځان ته اړولې، ده په شاعرانه او عارفانه ځیر نظر ور ته کتلي دي او د هغه ځای د خلکو طبیعي استعداد ئې برښېره کړې دی او بیائې د دوی پر بدبختۍ باندې ژړلي دي او د بدبختۍ علت ئې هم ور ښوولی دی.

خیبر ئې د «مردان حق» ځاله بللې ده او د دې ځای کږلیچونو د مسافر شاعر خیال د غه د حقیقت مقام ته رسولی دی چه وائي:

خیبر از مردان حق بیگانه نیست — در ضمیرش صد هزار افسانه ایست
جاده کم دیدم ازو پیچیده تر — یاوه گردد در خم و پیچش نظر
سبزه در دامان کهسارش مجوی — از ضمیرش بر نیاید رنگ و بوی

د دې ځای د خلکو فطري شجاعت او ذاتي لیاقت داسې ستائي:

سرزمینی کبك او شاهین مزاج — آهوی او گیرد از شیران خراج
در فضایش جره بازان تیزچنگ — لرزه بر تن از نهیب شان پلنگ

بیاددوی پربی مرکزی باندی تاسف کوی اودا ددوی دژوندانه دتو لو
بدبختیو علت گڼی:

لیك از بی مرکزی اشفته روز | بی نظام و ناتمام و نیم سوز
فر بازان نیست در پرواز شان | از تدروان پست تر پرواز شان
آه قوم بی تب و تاب حیات | روز گارش بی نصیب از واردات
آن یکی اندر سجود، این در قیام | کار و بارش چون صلوة بی امام

ریزریز از سنگ او مینای او
آه ازامروز بی فردای او

## کابل

د کابل صافه هوا اوخوشگواره فضاد پروخکلوخوښه شوې ده خولیز و خلکو
به ددې خاوری حق هغسې ادا کړی وی لکه چه اقبال ادا کړی دی، ددې خبرې علت
فقط یوازې همدا دی، چه علامه دپښتنو دخاورې سره د پیره علاقه لرله نو ځکه ئی
ویلی دی:

شهری کابل خطهٔ جنت نظیر | آب حیوان از رگ تاکش بگیر
چشم صائب از سوادش سرمه چین | روشن و پائنده باد آن سر زمین

په پورتنی بیت کښې ئی دمیرزا صائب تبریزی دې مسری ته اشاره کړی ده:
«خوشا وقتی که چشم ازسوادش سرمه چین گردد»

د کابل شپه داسې ستائی:

درظلام شب چمن زارش نگر | بربساط سبزه می غلطد سحر

باد ئی داسې ستائی:

آن دیار خوش سواد آن پاك بوم | باد او خوشتر زباد شام وروم

خاوره او او به ئی ستائی او په خاوره کښې ئی ژوند دهغه د نسیم له بر کته گڼی :

آب او براق وخاکش تابناك　　زنده از موج نسیمش مرده خاك

غرو نه ئی داسی ستائی:

نا پدا اندر حرف وصوت اسرار او　　آفتابان خفته در کهسار او

خلك ئی داسی ستایی:

ساکنانش سیر چشم وخوش گهر　　مثل تیغ از جوهر خود بیخبر

ځر نگه چه دی په کابل کښې د افغانستان د باچا میلمه و او د دلکشا په ماڼۍ کښې ئې د مرو ستر گو خاوندان د یر لیدلی وو نو ځکه ئی د دغې ماڼۍ یاد داسی کړی دی :

قصر سلطانی که نامش دلکشا ست　　زائران را گرد راهش کیمیاست

په کابل کښې ئې د « بابر » په مزار باندی یو غزل لیکلی دی او په هغه کښې ئې بابر ته داسې خطاب کړی دی:

خوشا نصیب کـه خـاك تو آرمید اینجـا

که این زمین زطلسم فرنـگ آزاد است

او د آزادۍ لامله ئې کابل د ډهلی نه زړ ځلی ښه گڼلی دی:

هزار مرتبه کـابل نـکوتـر از دلی است

« که آن عجوزه عروس هزار داماد است »

بیائی په همدې غزل کښې لیـکلی دی :

درون دیده نـگه دارم اشك خونین را

که من فقیرم و این دولت خداداد است

# غزني

کوم وخت چه علامه اقبال د کابل نه د شهید اعلیحضرت له حضوره رخصت شو نو د غزني لاره ئې ونیوله.

ده په خپله د دغه حالت کیفیت داسې بیان کړی دی:

از نوازش های سلطان شهید — صبح و شامم صبح شام روز عید

نکته سنج خاوران هندی فقیر — مهمان خسرو کیوان سریر

تا ز شهر خسروی کردم سفر — شد سفر بر من سبکتر از حضر

سینه بکشادم به آن بادی که پار — لاله رست از فیض او در کوهسار

د غزني په حال ډېر تأسف کړی دی او د هغه په کنډوالو کښې ئې ډېر ژړلی دی او د خیال په عالم کښې ئې د هغو ذوا تو سره چه د غزني په خاوره کښې د ابدیت په خوب کښې پراته دی د حال په ژبه خبرې کړي دي.

د غزني د تېر تهذیب په ور کېدو باندې داسې ژاړي:

آه غزني آن حریم علم و فن — مرغزار شیر مردان کهن

په غزني کښې ئې د حکیم سنائي غزنوي او د سلطان محمود غزنوي په مزارونو باندې د خپلو اوښکو مرغلرې توئې کړې دي او د ډېرو تا ثراتو سره د قند هار په خوا روان شوی دی.

# قندهار

په غزني کښي علامه ته څه تأثر پيداشو او چه قندهار ته ولاړ د قندهار آب وهوائي مخصوصاً نتيا وا يستله لکه چه وائي:

قندهار آن کشور مينوسواد | اهل دل راخاك آن خاك مراد
رنگ‌ها، بوها، هواها، آب ها | آب ها تابنده چون سيماب ها
لاله‌ها در خلوت کهسارها | نارها يخ بسته اندر نارها

کوم شي چه په قندهار کښي د ده د ډېري د لچسپي سبب گرځيدلى دى او د پښتنو دغه توته خاوره ئي ورته ډېره گرانه کړي‌ده هغه په قندهار کښي زمونږ د پيشوا حضرت محمد رسول الله (ص) مبارکه خرقه ده، د دى دغه مطلب داسي بيانوي:

کوى آن شهر است مارا کوى دوست | ساربان بربند محمل سوى دوست
مي سرايم ديگر از ياران نجد | از نوائى ناقه را آرم بوجد

کوم وخت چه د قندهار په ښه هوا او رنگينه فضا کښي د علامه د فکر ساروان د مبارکي خرقي نه د حضرت رسول الله (ص) د زيارت احرام و تاړه نو د خيال کار وان ئي د ډېرې مستۍ په حالت کښي يوه ښه سندره ويله چه ورو ستۍ کړۍ ئي دا ده:

سينا است که فاران است؟ يارب چه مقام است اين؟

هر ذرهٔ خاك من چشمي است تماشا مست

علامه اقبال په قندهار کښي د مبارکي خرقي په زيارت کښي ډېر واز ونياز کړى دى او د اعليحضرت احمدشاه بابا ابدالي په مزار کښي ئي هم د زړه ډېر رازونه ښکاره کړى دى چه مونږ به ئي هم په خپله موقع ښکاره کړو.

# پښتانه مشاهیر

علامه اقبال خوبه تاسي د آثا رو له مخه پېژ نیء چه د ده لو ړ خیا ل او شاعرانه لوړ همتی دلمر او سپوږمۍ نه خرا ج غوا ړ ی خو بیا هم د حق او حقیقت داظهار ترجذبې لاندې دخپلو مختلفو آثارو په ضمن کښې د ېر ځله دپښتنو شاهانو حضور ته دعقیدت خراج وړاندې کوی او په خپلو اشعارو کښې ئې داعلیحضرت المتوکل علی الله محمدظاهرشاه، اعلیحضرت محمدنادرشاه غازی، والاحضرت امان الله خان، ابدالی احمدشاه بابا او سوری شېرشاه یادونه کړې ده. او پښتنو مشاهیر وته ئې د ېر لوړ کتلی دی چه د پښتنو په نسبت دده ښه احساسات په دغه پیرایه کښې ښه څرګند ېږ ی:

المتوکل علی الله

محمد ظاهر شاه

کوم وخت چه علامه اقبال په قندهار کښې داحمدشاه بابا زیارت کوی نود «بابا» له خوا نه ورته داسې یو الهام کېږی چه دده په ژبه ئې تعبیر داسې شوی دی:

ای تراحق داد جان ناشکیب    تو زسر ملك ودین داری نصیب
فاش گو با پور نادر فاش گو    باطن خود را به ظاهر فاش گو

نو ځکه ئې اعلیحضرت محمدظاهرشاه ته یو ښه خطاب لیکلی دی چه داسې شروع کېږ ی:

ای قبای پادشاهی برتو راست    سایهٔ تو خاك ما را کیمیاست
خسروی را از وجود تو عیار    سطوت تو ملك و دولت را حصار

از تو ای سرمایهٔ فتح و ظفر　　تخت احمدشاه را شانی دگر
سینه‌ها بی مهر تو ویرانه به　　از دل و از آرزو بیگانه به
آبگون تیغی که داری در کمر　　نیم شب از تاب او گردد سحر
نیک می‌دانم که تیغ نادر است　　من چه گویم باطن او ظاهر است

حرف شوق آورده‌ام از من پذیر
از فقیری رمز سلطانی بگیر

ای نگاه تو ز شاهین تیزتر　　گرد این ملک خدادادی نگر
اینکه می بینیم از تقدیر کیست؟　　چیست آنچیزیکه میبایست و نیست
روز و شب آئینهٔ تدبیر ماست　　روز و شب آئینهٔ تقدیر ماست
باتو گویم ای جوان سخت کوش　　چیست فردا دختر امروز و دوش
هر که خود را صاحب امروز کرد　　گرد او گردد سپهر گردگرد
او جهان رنگ و بو را ابرو است　　دوش ازو امروز ازو فردا ازوست
مرد حق سرمایهٔ روز و شب است　　زانکه او تقدیر خود را کوکب است
بندهٔ صاحب نظر پیر امم　　چشم او بینای تقدیر امم
از نگاهش تیزتر شمشیر نیست　　ما همه نخچیر او نخچیر نیست
لرزد از اندیشهٔ آن پخته کار　　حادثات اندر بطون روزگار
چون پدر اهل هنر را دوست دار　　بندهٔ صاحب نظر را دوستدار
همچو آن خلد آشیان بیدار زی　　سخت کوش و پردم و کرار زی
می‌شناسی معنی کرار چیست؟　　این مقامی از مقامات علی است
امتان را در جهان بی ثبات　　نیست ممکن جز بکراری حیات
سرگذشت آل عثمان را نگر　　از فریب غربیان خونین جگر

تا ز کراوی نصیبی داشتند — درجهان دیگر علم افراشتند
مسلم هندی چرا میدان گذاشت — همت او بوی کراری نداشت
ذکر وفکر نادری درخون تست — قاهری با دلبری درخون تست
ای فروغ دیدهٔ برنا و پیر — سر کار از هاشم و محمود گیر
هم ازان مردی(۱) که اندر کوه ودشت — حق ز تیغ او بلند آوازه گشت

داقبال دپورتنیو اشعارو نه دده دافکار وله اعماقو نه دا مطالب لاس ته راځی.

۱ - اعلیحضرت المتوکل علی الله داحمدشاه بابا دشان او شوکت مظهر او دشهید اعلیحضرت خلف الصدق بولی او دافغان تاج وتخت ته دده وجود غنیمت او مناسب گڼی.

۲ - دده درسا نظر اولوړی نګاه نه داهیله کوی چه دتقدیر رمز دوخت

نه کار اخستل دی او دسبا دنیك بختیو تاداو نن ایښودل کیږی.

۳ - که څه هم دی د پلار په ځای گڼی او د پلار تول سجایا او اخلاق پکښی وینی بیا هم دا یوه خبره په ټینګه ترینه غواړی چه دپلار په شان دپوهې او نظر خاوند اوسره مینه ولری او هم دغه په شان بیدار او کرار و اوسی.

۴ - کراری او بیداری دمملکت دآزادی دساتلو مهم عامل بولی.

۵ - داعلیحضرت شهید ذکر او فکر دده دوینې رنګ بولی او ورسره تري دخپلو ګرانو ترونو دمصیبو افکارو نه کار اخستل غواړی. او پر دغو اساساتو دشپو او ورځو دکړاو او زیار په نتیجه کښې دافغان ملت ته دیو نوی

---

(۱) والاحضرت شاه ولی خان.

عصر آرزو ښکاره کوی :

روز ها شب ها تپیدن می توان
عصر دیگر آفریدن می توان

وروسته بیا د اخبره هم ځر ګندوی چه د نیا هرڅومره پرمخ ولاړه شی بیاهم په «قرآن» کښې دبشر داستفاد ې دپاره عالمو نه پراته دی چه باید افغانی ملت چه دده په نظر کښې د بر لوړ استعدادلری استفاده تر ېنه وکړ ی .

صدجهان باقی است در قرآن هنوز — اندر آیاتش یکی خود را بسوز
۱۰۰ باز افغان را ازآن سوزی بده — عصر او را صبح نو روزی بده
ملتی گم گشتهٔ کوه و کمر — از جبینش دیده ام چیز دگر
زانکه بود اندر دل من سوز و درد — حق زتقدیرش مرا آگاه کرد
کار و بارش را نکو سنجیده ام — آنچه پنهان است پیدا دیده ام
مرد میدان زنده از الله هو است — زیر پای اوجهان چارسو است
بندهٔ کو دل بغیر الله نه بست — می توان سنگ اززجاج اوشکست
او نگنجد در جهان چون و چند — تهمت ساحل به این دریا مبند

چون زروی خویش بر گیرد حساب
او حساب است او ثواب است او عذاب

بیاوائی چه زمونږ قوت په کتاب اوحکمت پوری اړه لری اودحکمت اصل اوماده دایجادلذت دی اود دغه لذت جذ به پخوا نو مسلمانانو سره وه او اروپا تر ېنه استفاده کړی ده، نولهذا بیرته لاس ته راوستل ئې په کاردی او هغه هم په دی صورت چه دخپل تهذیب اساس لوا صول داروپا له خرافاتو نه وساتو .

برگ وسازما کتاب وحکمت است  این دو قوت اعتبار ملت است
آن فتوحات جهان ذوق و شوق  این فتوحات جهان تحت و فوق
هر دو انعام خدای لایزال  مؤمنان را آن جمال است این جلال
حکمت اشیا فرنگی زاد نیست  اصل او جز لذت ایجاد نیست
نیک اگر بینی مسلمان زاده است  این گهر از دست ما افتاده است
چون عرب اندر اروپا پر کشاد  علم و حکمت را بنا دیگر نهاد
دانه آن صحرا نشینان کاشتند  حاصلش افرنگیان برداشتند
این پری از شیشهٔ اسلاف ماست  باز صیدش کن که او از قاف ماست
لیکن از تهذیب لادینی گریز  زانکه او با اهل حق دارد ستیز
فتنه ها این فتنه پرداز آورد  لات و عزا در حرم باز آورد
از فسونش دیدهٔ دل نابصیر  روح از بی آبی او تشنه میر
لذت بیتابی از دل می برد  بلکه دل زین پیکر گل می برد

کهنه دزدی غارت او برملاست
لاله می نالد که داغ من کجاست

وروسته بیاورته هغه نکتی څرگندوی چه په «زبورعجم» کښي ئي ویلی ده او د هغه لنډ یزدادی، چه «مرگ اوژوند اعتباری شیان دی؛ او له حق سره ژوند، ژوند دی او بی له حقه مرگ دی».

لکه چه وائی:

حق نصیب تو کند ذوق حضور  باز گویم آنچه گفتم در زبور

«مردن و هم زیستن ای نکته رس
این همه از اعتبارات است و بس
مرد کر سوز نوا را مرده ای
لذت صوت و صدا را مرده ای
پیش چنگی مست و مسرور است کور
پیش رنگی زنده در گور است کور
روح باحق زنده و پاینده است
ورنه این را مرده آن را زنده است
آنکه حی لا یموت آمد حق است
زیستن با حق حیات مطلق است
هر که بی حق زیست جز مردار نیست
گرچه کس درماتم او زار نیست»

د «حق» دحمایی او ساتنی دپاره دقرآن شریف په رنا کښې یو مهم حیاتی اوروحیاتی اصل وړاندی کوی چه هغه «نه ویریدل» دی.

برخور از قرآن اگرداری ثبات — درضمیرش دیده ام آب حیات
می دهد ما را پیام لا تخف — می رساند بر مقام لا تخف

||||||||||||||||||||

# اعلیحضرت شهید محمد نادر شاه

«دافغانستان سفر» په برخه کښې به تاسې لوستي وي چه علامه اقبال دافغانستان، ديوه تنکيالي او مدبر پاچا اعليحضرت محمد نادرشاه شهيد سره څومره اخلاص لري.

لوس په هم دغې برخې پوري مربوط يوه شپېبه بيا علامه اقبال د مشرق (فقير مشربه شاعر) دافغان (فقير مشربه پاچا) سره وګوري !

داصحنه داسې کښلې شي چه علامه کابل ته رسيدلې دی او د « دلکشا » په مانۍ کښې دلومړي ځل دپاره داعليحضرت سره په رازونياز مصروف دی .

که تاسې ته ددغې صحنې د کيفيت پوره پته و نه لګيږي، نو ددغه محفل تصوير پخپله دعلامه اقبال په کلام کښې کتلای شیء!

ده ددغه تشرف تمثيل داسې کړی دی :

قصر سلطانی که نامش دلکشا است　　زائران را گرد راهش کيميا ست

شاه را ديدم در ان کاخ بلند　　پيش سلطانی فقيری دردمند

دعلامه په نظر کښې داعليحضرت درباريو ساده، بی الايشه او بی تکلفه دربار دی چه دا داعليحضرت د پښتني اخلاقو لوی دليل دی:

خلق او آئين دلها را کشود　　رسم و آئين ملوک آنجا نه بود

او همدارنګه داعليحضرت اسلامي اخلاق چه دا د پښتنو په خټه کښې اخښل شوي دي او ددوی طبيعت سره ممزوج شوی دی داسې ستائی:

من حضور آن شه والا گهر　　بينوا مردی به دربار عمر

بيا پخپله ځان کښې دده د معقولو، متينو او سوزناکو خبرو تاثير داسې ښکاره کوي:

جانم از سوز کلامش در گداز
دست او بوسیدم از راه نیاز

او ده پښتنی عالي اخلاق او سجایاو ته را گرځي او وائي:

پادشاهي خوش کلام و ساده پوش سخت کوش و نرم خوی و گرم جوش
صدق و اخلاص از نگاهش آشکار دین و دولت از وجودش استوار

ده دفقراو شاهي دښه امتزاج کولو اوددغو دواړو په اسرارو پوهېدلو نه چه دا داسلامي دیموکراسي اصل دی اوورنه داسي حکایت کوی:

خاکی واز نوریان پاکیزه تر از مقام فقر و شاهی با خبر
در نگاهش روزگار شرق و غرب حکمت او راز دار شرق و غرب
شهریاری چون حکیمان نکته دان راز دان مد و جزر امتان
پرده ها از طلعت معنا کشود نکته های ملك و دین را وانمود

بیا په معنوی اساس دمېلمه او کوربه دوروروليء دتړون څخه چه د مینې په رڼا کښي شوی ؤ داسي تصویر باسی:

گفت از آن آتش که داری در بدن من ترا دانم «عزیز» خویشتن
هر که او را از محبت رنگ و بوست در نگاهم «هاشم» و «محمود» اوست

په پورتنیو دوو بیتونو کښي ددغه مجلس صمیمیت په ډېرو ادبی عبارتو کښي ترسیم شوی دی چه دغه ترسیم به په سلو کښي سل واقعی وی.

«عزیز» په پښتو کښي دوروړ، خپل اودوست په معنادی په عربي کښي دعزت خاوندته وائي او په عین حال کښي د اعلیحضرت دخپل وروروالاحضرت سردار محمد عزیزخان نوم ته هم اشاره ده.

ددوستئ د حرارت په اساس اعلیحضرت په تولو پورتنیو معنا و و

علامه خپل «عزیز» گڼلی دی .

اودا اعلانئې هم کړی دی چه ځوك چه لیکه علامه غوندې د محبتر ننگ اوبوی لری هغه ماته «هاشم» او «محمود» یعنی شاغلی اومنلی دی اویادا چه د والاحضرتسردار محمدهاشم خان او والاحضرت سردار شاه محمود خان غوندېزما وروردی .

ددغومکالما تو نه داعلیحضرت اودعلامه ددوستئ اواخلاص معیار تاسې پخپله تاکلی شئ !

علامه چه دیو مسلکی مسلمان پهحیث خپله هدیه داعلیحضرت حضور ته وړاندې کوی دهغه دانعکاس قیصه داسې کوی :

| | |
|---|---|
| در حضور آن مسلمان کریم | هدیه آوردم ز قرآن عظیم |
| گفتم این سرمایهٔ اهل حق است | در ضمیر او حیات مطلق است |
| اندرو هر ابتدا را انتهاست | حیدر از نیروی او خیبر کشاست |
| نشهٔ حرفم بخون او دوید | دانه دانه اشك از چشمش چکید |
| گفت «نادر درجهان بیچاره بود | از غم دین و وطن آواره بود |
| کوه ودشت از اضطرابم بیخبر | از غمان بیحساب بیخبر |
| ناله با بانگ هزار آمیختم | اشك با جوی بهار آمیختم |

غیر قرآن غمگسار من نه بود
قوتش هر باب را بر من کشود »

څرنگه چه داعلیحضرت له خوانه دغه ځواب دعلامه عین میل اوآرزو وه اوده هم خپله کامیابی، د وطن نجات او ترقی دقرآن شریف له برکته گڼله نوځکه پهعلامه باندې ئې ډیر تاثیر کړی دی، لکه چه وائی :

گفتگوی خسرو و الا نژاد

باز با من جذبهٔ سرشار داد

ددغه محفل دشروع نېټه مونبز ته نه ده معلومه خوختم ئې دماز یگر دلمانځه

څرنګه یوځای شوی دی لکه چه علامه وائي:

وقت عصر آمد صدای الصلوت     آن که مؤمن را کند پاك از صبات

انتهای عاشقان سوز و گداز     کرد م اندرا قتدا ی او نماز

راز های آن قیام و آن سجود

جز ببزم محرمان نتوان کشود

*     *     *

سر بیره پر دې ئې په «جاوید نامه» کښې هم داعلیحضرت محمد نادرشاه «رح» .

په باره کښي خپله ښه نظریه څرګنده کړې ده .

دابدالی (اعلیحضرت احمد شاه بابا) دروح نه دشرق دتقدیر او تدبیرد اسې

پوښتنه کوی:

کس ندا ند شرق را تقدیر چیست؟

دل بطا هر بسته را تد بیر چیست؟

د هغه له خوا نه د شرق پر تقدیر باندې د نادر او پهلوی تدبیر مو ثر

بولي او «نادر افغان» داسې ستایي :

نادرآن سرمایهٔ درانیان　　آن نظام ملت افغانیان
ازغم دین ووطن زار وزبون　　لشکرش از کوهسار آید برون
هم سپاهی هم سپه گرهم امیر　　با عدو فولا دو با یاران حریر

من فدای آنکه خودرادیده است
عصر حاضر را نکو سنجیده است

## والا حضرت امیر امان الله خان

علامه اقبال په دې حال کښې چه هندوستان دانګریزانو تراسارت لاندې ؤ یو ازې دافغانستان له خوانه دحق اوحقیقت دا ثبات لورى ته منتظرؤ نوځکه ئى ددغو غرونو رغونو، کانوبوټو، رجالو اواشخاصوته ستر ګې وى، په دغه وخت کښې والاحضرت امیرامان الله خان دافغانستان باچاؤ اوعلامه خپل د هر قیمتی اثر دافغانانو دتربیت په لحاظ ده حضورته پیش کش کرى دى.

دغه اثرده د «پیام مشرق» کتاب دى چه دجرمنی شاعراو فیلسوف «ګویته» په ځواب کښې لیکل شوى دى. اود کتاب پیش کش داسې شروع کیږى:

ای امیر کامگار ای شهریار　　نوجوان ومثل پیران پخته کار
چشم توا زپرد گیها محرم است　　دل میان سینه ات جام جم است
عزم تو پاینده چون کهسار تو　　حزم تو آسان کند دشوار تو
همت تو چون خیال من بلند　　ملت صد پاره را شیرازه بند
هدیه ازشاهنشهان داری بسی　　لعل ویاقوت گران داری بسی

ای امیر ابن امیر ابن امیر
هدیهٔ از بینوائی هم پذیر

په دغه پیش کش داخبره ده پخپله څرګنده کړی ده‌چه په‌تول‌شرق کښې دی دحق‌رښا پوازی‌دپښتونخوا په‌غرونو کښې‌وینی، دی‌دعرب، مصر، ترک، ایران اوهندی مسلمانانو نه‌داسی شکایت کوی :

دیدهٔ ای خسرو کیوان جناب — آفتاب ماتوارت بالحجاب

ابطحی‌دردشت خویش ازراه‌رفت — ازدم او سوز الا الله رفت

مصریان‌افتاده در گرداب نیل — سست‌رگ تورانیان ژنده پیل

آل‌عثمان درشکنج روزگار — مشرق ومغرب زخونش لاله زار

عشق راآئین سلمانی نماند — خاک‌ایران ماندوایرانی نماند

سوز وساز زندگی رفت‌ازگلش — ان کهن‌اتش فسرداند ردلش

مسلم هندی شکم را بنده ای — خودفروشی‌دل زدین‌بر کنده‌ای

درمسلمان شان محبوبی‌نماند

خالدو فاروق‌وایوبی نماند

دغه‌دیاس اونامیندی په‌حالت کښې والاحضرت امیرامان‌الله خان‌ته داسی دامید ستر ګی اړوی :

ای ترا فطرت ضمیر پاک داد — از غم‌دین سینهٔ‌صد چاک داد

تازه کن آئین صدیق و عمر — چون صبا برلالهٔ صحرا گزر

اودپښتون ملت طبیعی اوفطری قوت، شجاعت او نفسیاتی‌استعداد ته ئې نظر داسې را جلبوی :

ملت اوارهٔ کوه و دمن — در رگ اوخون‌شیران‌موج‌زن

زیرک ورو‌ئین تن و روشن جبین — چشم اوچون‌جره بازان‌تیز بین

بیاد دوی بدبختی داسې شرح کوی :

قسمت خود از جهان نا یافته　　کوکب تقدیرا و نا تافته
در قهستان خلوتی ورزیده ٔ　　رستخیز زندگی نادیده ٔ
جان تو بر محنت پیهم صبور　　کوش در تهذیب افغان غیور

علامه هغه خولك چه غیور افغان ته خدمت کوی د اسلامی امت له صدیقانو شمیره گڼی او ددغه قوم لوړتیا ددین قوت بولی نو ځکه ئې والاحضرت ته ویلی دی:

تا ز صدیقان این امت شوی
بهر دین سرمایهٔ قوت شوی

علامه دبښتنو دپاره د کوشش، سعیه، علم او حکمت د برخورت وینی او وائی:

زندگی جهداست و استحقاق نیست　　جز به علم انفس و آفاق نیست
گفت حکمت را خدا خیر کثیر　　هر کجا این خیر بینی باز گیر

علامه د ملك انتظام او د ملت اعتبار په علم او ثروت پوری مربوط گڼی او ددوارو منبع او معدن والاحضرت ته ښیی:

علم و دولت نظم کار ملت است　　علم و دولت اعتبار ملت است
آن یکی از سینهٔ احرار گیر　　وان دگر از سینهٔ کهسار گیر
دشنه زن در پیکر این کائنات　　در شکم دارد گهر چون سومنات

لعل ناب اندر بدخشان تو هست
برق سینا در قهستان تو هست

دې دپاره چه ددغه مملکت اساس ټینګښی علامه والاحضرت ته توصیه کړی ده چه دخلکو په پیژندلو کښې دې د برخیرشی او دهغو ریا کارانو ته چه

دشیطانی دپاره دبزرگی خرقې اغوندې ځان او وطن وساتی، لکه چه وائی:

کشور محکم اساسی باید ت | دیدهٔ مردم شناسی باید ت
ای بسا آدم که ابلیسی کند | ای بسا شیطان که ادریسی کند
رنگ او نیرنگ وبود اونمود | اندرون اوچو داغ لاله دود
پاکباز و کعبتین او دغل | ایمن و غدر و نفاق اندر بغل
درنگر ای خسرو صاحب نظر | نیست هرسنگی که میتابد گهر
مرشد رومی حکیم پاك زاد | سر مرگ وزندگی برما کشاد

«هر هلاك امت پیشین که بود
زانکه برجندل گمان بردند عود» (رومی)

په پای کښې ئې داسلام له نقطه نظرهٔ دسرداری اوباچهی رازپه خدمت اوعدل کښې ښودلی دی اوپه یولطیف صورت سره ئې دهغه توجه دې خواته اړولی ده چه دده دسلطنت اساس باید داسلامی دیموکراسی په اساس وی لکه چه وائی:

سروری در دین ما خدمتگری است | عدل فاروقیﺀ و فقر حیدری است

اوهمدارنګه ئې دی خپل ځانته متوجه کړی دی اودخو دی فلسفه ئې ورته په مخکښې ایښې ده.

در هجوم کارهای ملك ودین | بادل خود یك نفس خلوت گزین
هرکه یکدم در کمین خود نشست | هیچ نخچیر از کمند او نجست

درقبای خسروی درویش زی
دیده بیدا روخدا ندیش زی

# اعلیحضرت احمد شاه بابا

۱ - کوم وخت چه علامه اقبال افغانستان ته راغلی ؤ ، دلته نو قندهار ته هم ورغلی دی او هلته ئې دا علیحضرت احمد شاه بابا زیارت کړی دی . «مسافر» ددغه زیارت کیفیت داسې ترسیم کړی دی :

تربت آن خسرو روشن ضمیر — ازضمیرش ملتی صورت پذیر
گنبد او را حرم داند سپهر — بافروغ از طوف او سیمای مهر
مثل فاتح آن امیر صف شکن — سکهٔ هم زد به اقلیم سخن

په وروستنی بیت کښې د «فاتح» نه د علامه مطلب سلطان محمد فاتح د قسطنطنیې فاتح دی ، چه احمدشاه بابا ئې هغه سره تشبیه کړی دی ، د دې بیت د وروستي مصرع نه معلومیږی چه علامه اقبال د اعلیحضرت احمدشاه بابا د شعر او شاعرۍ مقام ته هم په لوړ نظر گوری - او همدا رنگه دده سیاسی روح بیا داسې بیانوی :

ملتی را داد ذوق جستجو — قدسیان تسبیح خوان بر خاک او

او همدا رنگه دهغه فیاضی او ښه خوا نی چه دا د پښتنو عالی سجیه ده محرگند وی :

ازدل و دست گهر ریزی که داشت
سلطنت ها برد و بی پروا گزاشت

په دغه زیارت کښې په معنوی صورت د اعلیحضرت له روح سره مکالمه کوی .

نکته سنج و عارف و شمشیر زن
روح پاکش با من آمد در سخن

گفت میدا نم مقا م تو کجا ست　　نغمهٔ تو خا کیان ر ا کیمیا ست

خشت و سنگ از فیض تو دارای دل　　ر و شن از گفتار تو سینای دل

پیش ما ای آشنا ی کوی دو ست　　یك نفس بنشین که داری بوی دو ست

او بس علامه اقبال داعلیحضرت له روح نه دخودی الهام او تائید اخلی :

ای خوش آن کو از خودی آئینه سا خت　　و ندران آئینه عالم را شناخت

پیر گر د یدا ین ز مین و این سپهر　　ماه کور از کور چشمیهای مهر

بند ۀ مؤ من سرا فیلی کند　　با نگ او هر کهنه را برهم زند

ای ترا حق د ا د جان نا شکیب　　توز سر ملك و دین داری نصیب

فا ش گو با پور نا در فا ش گو

با طن خود را به «ظاهر» فا ش گو

داعلیحضرت احمد شاه بابا پیغام چه د علامه اقبا ل په ژ به «ا لمتو کل علی الله» ته رسول شوی دی ، په تیرو یا نو کښی تیر شو .

۲ ـ علامه اقبال د «جاویدنامی» په شاعرانه سیر کښی د ټولو آسما نو نو نه آخوا ته د مشرق د سلاطینو ما ڼی ر وینی ، په دغو سلا طینو کښی یو لوی سړی ابدالی (اعلیحضرت احمدشاه بابا ابدالی) هم وی چه علامه اقبال ئی په دغه ځای کښی دا سی ستا یی :

مر د ا بد ا لی و جو د ش آ یتی

دا د افغا ن ر ا ا سا س ملتی

په دغه مقام کښی علامه اقبال «زنده رود» نومیږی او اعلیحضرت «ا بدالی» سره د یره د لچسپه مکا لمه لر ی - په دی مکا لمه کښی د پښتنو طبیعی استعداد او د دغه استعداد سره بیا هم د دوی د بیر ته پا ته کیدو علت او د دوی د ر ځو نو

دوا پوره شودلي شوي ده .

«ابدالی» پوښتنه کوی :

آن جوان کو سلطنت ها آفرید　　باز در کوه وقفار خود رمید

آتشی در کوه سارش برفروخت　　خوش عیار آمد بیرون یا پاك سوخت

«زنده رود» دغه ځوان «پښتون» د بې اتفاقی او بېلتون نه شکایت کوی او وائی :

امتان اندر اخوت گرم خیز

او برادر با برادر در ستیز

ددوی طبیعی استعداد او داچه دشرق په ژوندانه باندې ددوی ژوند څومره تاثیر لری ؟ داسی ښکاره کوی :

از حیات او حیات خاور است

طفلك ده ساله اش لشکر گر است

خو بیائی دبې خبری په حالت باندې تاسف کوی چه :

بیخبر خود را از خود پرداخته　　ممکنات خویش را نشناخته

هست دارای دل و غافل ز دل　　تن زتن اندر فراق ودل ز دل

مرد ره هر ورا بمنزل راه نیست　　ازمقاصدجان او آگاه نیست

بیا دخوشحال خان خټك په خوله ددوی د مسموم شوی نفسیاتی موجوده حالت نه داسې شکایت کوی :

خوش سرود آن شاعر افغان شناس　　آنکه بیند باز گوید بی هراس

آن حکیم ملت افغانیان　　آن طبیب علت افغانیان

راز قومی دید وبی باکانه گفت　　حرف حق باشوخی رندانه گفت

«اشتری یابد اگر افغان حر
بایراق و ساز و با انبار در
همت دونش ازان انبار در
می شود خوشنود باز تنگ شتر»

د «ابدالی» لەخوانه دې خبرې تەپه یوه پراهمیت کتل کېږی او د پښتون ملت دایشیا زړه گڼل کېږی او دایشا دآزادی دپاره دانظریه مفید ه ښیی چه دوی خپل زړه دنورو له قیدنه آزاد و ساتی :

درنهاد ماتب و تاب از دل است | خاك رابیداری وخواب ازدل است
تن زمرگ دل دگرگون می شود | در مساماتش عرق خون می شود
ازفساد دل بدن هیچ است هیچ | دیده بردل بند وجز بر دل مپیچ
آسیا یك پیکر آب و گل است | ملت افغان دران پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا | در کشاد او کشاد آسیا
تا دل آزاد است آزاد است تن | ورنه کاهی در رهٔ باد است تن

سر بېره پر دې ابدالی دمشرق اقوامو ته یوه بله غوټه هم ور خلاصوی او دهغه نه مطلب دادی چه دمغرب ترقی ددوی دظاهر فریبه تمدن دمظاهرو نه عبارت نه دی بلکه ترقی او پرمختگ علم او پوهې پورې اړه لری او دشرقی تهذیب او ملیت ساتلو سره هم لاس ته راځی :

شرق را ازخود بردتقلید غرب | باید این اقوام را تنقید غرب
قوت مغرب نه ازچنگ ورباب | نی ز رقص دختران بی حجاب
نی زسحر ساحران لاله روست | نی زعریان ساق و نی از قطع موست
محکمی اورانه ازلادینی است | نی فروغش از خط لاتینی است

قوت افرنگ از علم وفن است | از همین آتش چراغش روشن است
حکمت از قطع و برید جامه نیست | مانع علم و هنر عمامه نیست
علم و فن را ای جوان شوخ و شنگ | مغز می باید نه ملبوس فرنگ
اندرین ره جز نگه مطلوب نیست | این کله یا آن کله مطلوب نیست
فکر چالاکی اگر داری بس است | طبع دراکی اگر داری بس است
گر کسی شبها خورد دود چراغ | گیرد از علم و فن و حکمت سراغ

ملك معنی کس حد او را نه بست
بی جهاد پیهمی ناید بدست

دلته بیا «زنده رود» دشرق دتقدیر اوتدبیر پوښتنه کوی او «ابدالی» هغه ځواب ورکوی چه مونږ د «اعلیحضرت محمد نادرشاه» په عنوان کښی ذکر کړ.

دد غو مکالمو نه دعلامه اقبال په نظر کښي داعلیحضرت احمد شاه بابا دافکارو اونظر یاتو هغو مره قدراواحترام ثرګند یږی چه زمونږ دتبصري نه بی نیازه دی.

# سوری شیرشاه

دپښتو نخوا دلوړو غرونو باهمته زوی اوغیرتمنده شاه زلمی شېرشاه سوری د هند په خاوره کښې لوی حکومت جوړ کړاودپښتنی ذاتی جوهرپه اساس ئې هلته ښه پوره انتظام اوعدالت قائم کړاودخپلې همدردۍ اورعیتپروری له مخه دهند دټولو افراد و په زړونو باندې تراوسه باچهی کوی.

هند یان دده نوم په ډېر احترام سره یادوی اوهندی پوهان دهغه په اقوالو استناد اودهند تاریخ دهغه په وجود باندې افتخار کوی.

علامه اقبال هم چه ددې خبرې نه سر بېره د پښتنو فطری لیاقت ته هم پوره امیدوار اوعقیدت مندؤ په یوځای کښې دپښتنو د یوالی په ارز و دشیرشاه سوری نظر یه دوی ته وړاندې کړې ده.

دشیرشاه سوری دانظریه وه چه پښتون دپاره یوه پښتنولی کفایت کوی اودادوی دیووالی مهم عنصر دی، نورقبائلی امتیازات اواختلافات باید له منځه وایستلی شی اوټول پښتانه د «پښتون» په نامه سره غونډ شی اومتمرکز واوسی.

د شېرشاه سوری نظریه هم داسې وه لکه داحمدشاه ابدالی چه:

تو له یو دی که غلجی کـه ابدالی دی
ښه هغه چه ئې ښېښه د زړه صفا ده

(احمد شاه بابا)

علامه اقبال هم ددغې نظریې په استناد پښتانه یووالی ته رابولی او وائی:

په نکته خوب که هاشېرشاه سوري ني   که امتیاز قبائل تمامتر خواري
عزیز هي انهین نام وزیري و مسعود   ابهی په خلعت افغانیت سي هین عاري
هزار پاره کي کهسار کي مسلماني   که هر قبیله هي اپني بتون کا زناري
وهي حرم هي وهي اعتبار لات و منات
خدا نصیب کري تجه کو ضربت کاري

ترجمه:

سوري شیرشاه داخورا ښه خبره کړېده: «چه دقبیلوو یش خواري او دربدري ده» دوی ته دو زیرو مسعود نوم گران دی مگر اوس دوی له پښتنو الی لغ لغړ پاتي دي - دغرو مسلماني زرتوټي شوېده هري قبیلي دخپل بت زنارغاړي ته اچولي دي - او تراوسه هم هغه حرم او هغه دلات و منات اعتبارات شته خدای دي ستاسي يو کاري وار په نصیب کړي (چه له دغو تفرقو څخه خلاصون ومومیء)

دغسي ږوایات مشهور دي چه دشېرشاه سوري په دربار کښي دربار یانو د کوم پښتون مسافر نه پوښتنه کړې وه چه «ته څوك ئي؟» هغه ویلي دي چه «پښتون!»

دوهم ځل چه دوی پوښتنه کړې ده چه په «پښتون کښي څوك ئي؟»

شیر شاه پخپله ویلي دي: «یو پښتون» کفایت کوي.

# خوشحال خان خټك

علامه اقبال ځرنګه چه د خپل عصر د پښتنو باچهانو سره مکالمې او صحبتونه لري او دتېرو باچهانو له روحانیت سره غبږ ېږی او دهغوی نه روایت او حکایت کوی او تولو سره دپښتنو شان، ددوی قوت او عظمت بیانوی او بیا ددوی دموجوده پریشانۍ دپاره ژاړی :

همدغه راز دپښتنو دډېر فترت دزمانې له یو دبیر پوه، لیډر، سیاسی او شاعر اعنی خوشحال خان خټك له افکارو سره هم ډېر تماس کړی دی.

خوشحال خان خټك په داسې یو عصر کښې ژوندتېر کړی دی چه په هغه وخت کښې دمغلو له لاسه په پښتنو باندې چپه مېچنې ګرځېدلې او بیا خوشحال خان پخپله نفسیاتی نګاه د هغه ادبار او ذلت علل او عوامل پخپله د پښتنو په نفس کښې تشخیص ول او دوی ته ئې دخودۍ درسونه ورکول. علامه اقبال پخپل عصر کښې هم په محکومو پښتنو باندې عین هم هغه حالت لیده نو ځکه دوی ته ئې دخوشحال خان په ژبه دیووالی دعوت ورکاوه او داستعمار سره ئې له دوی نه مجادله غوښتله.

اوس هم لا دخوشحال او اقبال ارمانونه ترسره شوی نه دی او د هغوی روحانیت دپښتنو نفسی استعداد څخه ننګ، غیرت او خودی غواړی.

دډېر دیو استعماریو نو څخه دنفرت ښکاره کولو په باب کښې علامه اقبال دخوشحال خان خټک دافکارو داسی ترجمانی کړې ده :

١ ـ قبائل هون وحدت کې ملت مین گم　　　که هو نام افغانیون کا بلند

٢ ـ محبت مجهې ان جوانون سې هې　　　ستارون په جو ڈالتې هین کمند

۳-مغل سې کسې طرح کمتر نهین — کہستان کا یہ بچۂ ارجمند
٤- کهون تجهه سې اې همنشین دل کی بات — وہ مدفن هی خوشحال خان کو پسند
اڑا کر نہ لائې جهان باد کوہ
مغل شهسواورن کی گرد سمند

ترجمه:

۱-چه قبیلې په ملی وحدت کښې ور کې شی ها له به د پښتنو نوم لوړ شی
۲-زه د هغو ځلمو سره مینه لرم چه ستوری په کمند کښې نیسی
۳-د غرو د غه ځلمی (پښتانه) په هیڅ فن کښې تر مغلو پاتې نه دی
٤- ! زه به تا ته د زړه خبره و کړم چه د خوشحال خان هغه قبر خوښ دی چه هلته د غرو باد و نه د مغلو سپرو د آسو گرد و نه نشی وروړلای دا هغې خبرې ته اشاره ده چه:

خوشحال خان په (۱۱۰۰ هـ) کال کښې د وفات د وروستیو سلـ گوسره داسې وصیت کړی ؤ:

«ما هلته ښخ کړیء چه د مغلو سپوري مې پر خاورو نه رسي او د مغلو د سپرو د پښو گرد مې پر هدیره و نه لوېږی ! »

خوشحال خان خټک په بل ځای کښې د پښتنو د افکارو د مسموم کېدو نه ژړلی دی او د دوی د بدبختیو علت العلل او د موجوده نفسیاتی قیټ والی موجب ئې داسې څرگند کړی دی:

پښتانه په عقل و پوهه څه نا کس دی — کوته سپی د قصابانو د جوس دی
بادشاهی ئې د مغل په زرو بایله — د مغل د منصبو نو په هوس دی
اوس له باره پخپل کور کښې ورغلی — په ولجه داوښ دغاړې د جرس دی

علامه اقبال ددغه مطلب داسې ترجمه کوی :

خوش سرود آن شاعر افغان شناس　　آنکه بیند باز گوید بی هراس
آن حکیم ملت افغانیان　　آن طبیب علت افغانیان
راز قومی دید و بی باکانه گفت　　حرف حق باشوخیء رندانه گفت

«اشتری یابد اگر افغان حر
با یراق وسازو با انبار در
همت دونش ازان انبار در
می شود خوشنود بازنگ شتر»

ددغو اشعارونه دامعلومېږی چه علامه اقبال د پښتون شاعر او لیډر خوشحال خان خټك په افکارو او اشعارو کښې ډېره عمیقه مطالعه کړې ده:
د «بال جبرئیل» په حاشیه کښې ئې لیکلی دی :
«خوشحال خان خټك دپښتو ژبې مشهور وطن دوست شاعر دی، چه افغانستان ئې دمغلو نه آزاد کړاو په سرحد کښې ئې د پښتنو قبائیلو یوه د له جوړه کړه دا یږدو قوم تر آخره پورې ورسره و در ېد .
دده دسلو نظمونو انګرېزی ترجمه په ۱۸۶۲ ع کال کښې دلندن نه شایع شوه . »

## پښتون سید جمال الدین :

هغه لوی مصلح چه په دنیا کښې دشرق نابغه ګڼل کېږی او ټول مشرق پرې افتخار کوی، دشرق هرمملکت وائی چه دازمونږ سړی دی او دغه ویاړ نه ځانته راجع کوی .
هغه پښتون سید جمال الدین دی .

داد پښتون سید داحوالو اوافکارو دبیانولوځای نه دیخودده په باره کښې دعلامه اقبال نظریات ښودل کیږی . علامه اقبال په «جاوید نامه» کښې د «افغانی» په نوم یاد کړی دی او په خپل خیالئې د شرق دډیرو پوهانو مقتدا او امام ګڼلی دی .

«فلك عطارد» ئې دپاکو اروا حو مقام ګڼلی دی او په دغه مقام کښې ئې «پښتون سید» داسې ښودلی دی :

رفتم و دیدم دو مرد اندر قیام
مقتدی تاتارو افغانی امام

پیر رومی هر زمان اندر حضور | طلعتش بر تافت از ذوق وسرور
گفت: «مشرق زین دو کس بهتر نزاد | ناخن شان عقده های ما کشاد
سید السادات مولانا جمال | زنده از گفتار او سنگ وسفال
ترك سالار آن حلیم دردمند | فکر او مثل مقام او بلند

با چنین مردان دو رکعت طاعت است
ورنه آن کاری که مزدش جنت است »

دلته مقتدی د ترکو لوی مصلح سعید حلیم پاشا او امام علامه سید جمال الدین افغان دی .

علامه اقبال دد غه اقتدا او امامت کیف داسې بیانوی :

قرأت آن پیر مرد سخت کوش
سورهٔ والنجم آن دشت خموش

قرآنی کزوی خلیل آید بوجد | روح پاك جبرئیل آید بوجد

دل‌ازو در سینه گردد تا صبور شور الا الله خیزد از قبور
اضطراب شعله بخشد دو درا سوز و مستی میدهد داؤ درا
آشکارا هرغیاب از قرأتش
بی‌حجاب ام الکتاب از قرأتش

دلما نحوه نه وروسته پښتون سیدسره خپل تعارف داسی ښیی:

من زجا برخاستم بعد از نماز دست او بوسیدم از راه نیاز
گفت رومی: «ذرهٔ گردون نورد دردل او یك جهان سوز و درد
چشم جز بر خویشتن نکشاده دل بکس ناداده آزاده
تند سیر اندر فراخای وجود
من زشوخی گویم اورا زنده رود

بیاد «افغانی» له خوا نه‌دمسلمانانو دحالاتوپوښتنه کیږی او زنده رود (علامه اقبال) ورته په ځواب کښې په مشرق باندې دمغرب د استعمار نه شکایت کوی:

ترک و ایران و عرب مست فرنگ هر کسی رادر گلو شست فرنگ
مشرق از سلطانی مغرب خراب اشتراك از دین وملت برده تاب

په‌هرصورت ددغه مصاحبې جزئیات زمونږ دموضوع نه‌بهرد ی اودپښتون سید جمال الدین مقام دعلامه‌اقبال‌په نظر کښې دهمدې خبرو نه څرګندیږي.

## د پښتنو آزادی

اسیا یك پیکر آب و گل است
ملت افغان دران پیکر دل است

## از فساد او فساد اسیا
## د رکشاد او کشاد د اسیا

د تیرو بحثونو او څیړنو نه دا راوځي چه علامه اقبال که د یوې خوا د پښتنو د هېواد کانو بوټو، اب و هوا او خاورې سره علاقه لرله او دغې خاورې مشرانو او پوهانو ته ئې په لوړ نظر کتل، د بلې خوا نه دغه قوم او ولس د هغه په نظر کښې ډېر لوړ مقام درلود او د طبیعي او فطري استعدادونو له مخه ئې د دوی لوړشان او حیثیت ته ډېر اهمیت ورکاوه.

د ده په نظر کښې که د پښتنو د هېواد د طبیعي او جغرافیائي وضعیت د ایشیا په سرنوشت باندې پوره تاثیر لري د دغه قوم اخلاقي سجایا او ملي ممیزات هم د ایشیا د عزت او ذلت، ودانۍ، آزادۍ او اسارت په لار کښې ورته د توجه وړ ښکاري.

نو ځکه ده دغه ملک او د دغه وطن اوسېدونکي یا په بل عبارت د پښتنو ملک او ملت د ایشیا زړه بللی دی، دا محض د ده یو شاعرانه تخیل نه دی بلکه د یو اجتماعي د اکثر په حیث ئې دې نکتې ته پام شوی دی او دا ورته ثابته شوې ده چه څرنګه چه د بنیادم په وجود کښې «زړه» د وجود د صحت او فساد مرکز دی همدارنګه د ایشیا په بدن کښې دغه ملک او ملت د زړه حیثیت لري او د ټولې ایشیا ترقي او انحطاط د دغه قوم په تنزل او ارتقا پورې مربوط دی.

دی زړه د ژوندانه مرکز بولي او د زندګۍ تب و تاب د زړه مرګ او حیات پورې تړي:

در نهاد ما تب و تاب از دل است    خاک را بیداری و خواب از دل است

دزړه مرګ او فساد عيناً دتن مرګ او فساد ګڼي :

تن ز مرګ دل دګرګون مي شود    در مسامات عرق خون مي شود
از فساد دل بدن هيچ است هيچ    ديده بر دل بند و جز بر دل مپيچ

دزړه او بدن دتعلقاتو دبيانولو نه وروسته بياد ايشيا په تن کښي پښتنو ته دزړه حيثيت ورکوي او د ايشيا مرګ او ژوند دوي پوري مربوط ګڼي :

آسيا يك پيكر آب و ګل است    ملت افغان در آن پيكر دل است
از فساد او فساد آسيا    و ز کشاد او کشاد آسيا

دزړه آزادي دتن آزادي ګڼي يعني دپښتنو آزادي د ايشياد آزادۍ شرط بولي :

تادل آزاد است آزاد است تن
ورنه کاهي در ره باد است تن

# پښتانه

ملت او اره کوه ودمن    دررگ او خون شیران موجزن
زیر کورو ئین تن وروشن جبین    چشم او چون جره باز ان تیز بین

* * *

آسیا یك پیکر آب و گل است    ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا    در کشاد او کشاد آسیا
تا دل آزاد است آزاد است تن    ورنه کاهی در رهٔ باد است تن

* * *

افغان باقی، کهسار باقی
الملك لله    الحکم لله

د علامه اقبال یو بل خطاب چه د پښتنو په نوم دی هم زمونږ لاس ته راغلی دی په دې شعر کښې پښتانه خپل ځان ته ملتفت کوی او د دوی د ژوندانه تقدیر د دوی د ضمیر آزادۍ ته راجع بولی او د پښتو نخوا په لوړو غرونو کښې دغه قوم د «کلیم» په حیث گڼی او د سهار د رڼا او تجلا خواته ئې توجه اړوی او د دوی دې ته را بولی چه د محمد نادر شاه شهید لمنې ته ولوېږی او د دغه نظر خاوند له پاك ضمیره څخه استفاده وکړی لکه چه وائی:

صبا بگو به افغان کوهسار ازمن بمنزل رسد آن ملتی که خودنگراست
مرید پیر خرابا تیان خودبین باش نگاه او زعقاب گرسنه تیز تراست
ضمیر تست که نیش زمانه تو کشد نه حرکت فلك است ونه گردش قمراست
دگر سلسلهٔ کوهسار خود بنگر که تو کلیمی و صبح تجلیت دگراست

بیا بیا که بدامان نادر آویزیم
که مرد پاك نهاد است وصاحب نظر است

# اقبال د افغانی شاعرانو

## په نظر کښی

څو مره چه پښتانه دعلامه اقبال په نظر کښی قدرلری دغه عارف اوحکیم شاعرهم دپښتنو اوافغانی شاعرانو په نظر کښی ډیرلوړ مقام لری او په ډیره درنه سترګه ورته کتل کیږی ، دافغانستان شعراووا وپښتنو ادیبانوهرچیرته دده آثار اواشعار ستایلی دی اودده په خبرو ډیر ښه پوه شویدی .

دده ډیر اشعار پښتنو پښتو کړیدی او دده افکارو د پښتو ادب په زړه کښی ځای پیدا کړیدی که هغه پښتو اشعار مونږ راغونډ کړو چه پښتنو شعراء دعلامه اقبال له آثارو نه پښتوته په نظم رانقل کړیدی یو ښه کتاب تری جوړیږی او داخبره ډیره ښه ځرګندیږی چه دفارسی ژبې هیڅ شاعر په دغه اندازه دپښتنو توجه ځانته نه ده جلب کړې .

هغه ښاغلی چه دمرحوم اقبال شعرونه ئې په پښتو اړولی اوپه دغه کار کښې ډیره برخه لری دادی :

ښاغلی پوه اوعالم پښتون عبدالهادی خان داوی ، ښاغلی مولانا خادم ښاغلی مشهورادیب سیدراحت زاخیلی وروسته تردوی ځینو نورولوړواو پوهو شعراءلکه سیدشمس الدین مجروح ، سیدرسول رسا اوځینو نوروهم دده ځینی اشعار په پښتو ژبه په نظم اړولی دی چه دترجمې حق ئې ډیرښه ادا کړیدی

مګر د کمیت په لحاظ ئی برخه یا کمه ده یاخو یې د غه باب کښې زما معلومات کم دي .

غیر له دغو ذواتو نه ښائی چه نور به هم ډېر کسان وی چه دا قبال شعرو نه ئې پښتو کړ ی و ی اوده له شاعرۍ نه ئې ډېره ګټه اخستې وي چه ما ته به نه و ی معلوم. په افغانستان کښې دعلامه اقبال شعراو شاعرۍ ډېر ادبی محافل نا و ده کړیدی او دادبی ذوق پالنه ئې په ډېر ښه شان کړ یده .

مرحوم سید حسن خان حسن چه دپښتو ژبې ډېر ښه شاعرو ، او ده په ځای کښې به ډېر ادباء او فضلاء راټولېدل دعلامه اقبال له اشعارو سره ئې خاصه مینه درلو ده او ددغه مرحوم په مجلس کښې به همیشه دهغه مرحوم اشعا ر لوستل کېده.

زه دلته دځینو افغانی شاعرانو او پښتنو شعراء هغه شعرونه رانقلوم چه یائې د اقبال په مړینه کښې ویلی دی یا د هغه په یادو بود کښې و یل شویدی او هغه دا دی :

مرحوم ملك الشعراء قاری:

# اقبال کیست

ادیب سخن گستر نکته سنج — که هر نکته اش بهتر از مدز گنج

چمن کردهٔ طرز رنگین اوست — شکر پارهٔ حرف شرین اوست

کلامش چو اوج بلندی گرفت — سخن رتبهٔ ارجمندی گرفت

زند طعنه آهنگ او برق را — که خواهان بود نهضت شرق را

نوین شیوهٔ را به سبك کهن — در آمیخت از قدرت علم و فن

چو اندر سخن جادهٔ نو گزید — پیامی زمشرق بمغرب رسید

سخن را در آمیخت چون باعلوم — از و زنده شد طرز ملای روم

چو فکرش پی فیلسوفی گرفت — طراز سخن طرز صوفی گرفت

نوایش هم آهنگ با نفخ صور — که افسردگان را درآرد بشور

چو بلبل به آهنگ کهسار ما — زهندآمد این طوطی خوشنوا (۱)

---

(۱) دا شعر دقاری صاحب له مستقل دیوان نه رانقل شویدی .

استاد خلیلی :

# بر مزار اقبال

## درلاهور

تربت اقبال را کردم طواف
دولتی دیدم در انجا بیخلاف

دیدهٔ بیدار او اندر منام
وان دو دستی تیغ خفته در نیام

مشت خاکش برده بر گردون سبق
تا بد از هر ذره اش انوار حق

آسمان بر خاك او پیرایهٔ
آفتابی در میان سایهٔ

خانه پرد از رموز بیخودی
محرم اسرار آیات خودی

تا به حشر از سینهٔ آگاه او
بشنوی فریاد الا الله او

زنده از وی رسم و راه معنوی
روشن از وی خانقاه مولوی .

از سنائی سوزها در سینه اش
وز نی بلخی نوا در نغمه اش

این نواها از نوای کبریاست
کاروان خفته را بانگ دراست

این نوا بیرون دمداز نای عشق
وین گهرها زایداز دریای عشق

زد سبوی باده نوشان فرنگ
از غریو نعرهٔ وحدت بسنگ

نعرهٔ او در دل ما کار کرد
خفته گان شرق را بیدار کرد

بر مزارش بود لوح تا بدار
یادگار سرزمین کوهسار

ښاغلی حمزه شینواری:

# دعلامه اقبال په تصویر

تخیل مې دخودی د ګلونه سپړده ... رنګینو ئې زیا توه د مخ جمال

زما فکر په ورشو د حکمتو نو ... راپیدا کړې ښکلې ستر ګې دغزال

د فطرت تاو ده ساړه په اتحادشول ... شوه دذهن کار خانه په اعتدال

دضمیر ساز کښې آهنګ نوی پیدا شو ... شوی سندرې دفطرت په اتصال

سخن و ره شوه زما د فکر ژبه ... ښکلو لو ته ئې راغی استدلال

پټ جهان په هر ظاهر کښې راعیان شو ... معنوی جهان شو ما ته یو تمثال

کم فهمی مې دخودیء چپولاهو کړه ... حال دسیند او حباب اووې انفعال

انفعال او اتصال با قاعده شول ... هر اجمال شو لو تفصیل، تفصیل اجمال

دفطرت جمال مې پورته یو حجاب کړ ... ښه مې و لیده جلوه د خپل جلال

زما ستر ګو د سر حد د نظر یې نه ... لیدل او کړه تر او سطه ترد نبال

زه حیران وم چه دا زه دڅه نه څه شوم ... دناقص په یو لحظه کښې دا کمال؟

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

په آسمان دمعانی کښې پرواز هسې!! ... هسې زغاست ئې په عالم کې دمثال!!

په دې فکر کې وم ناست په یو هو تل کښې ... ما کاوه له خپله ځانه هسې سوال

انتقاد د معانی ؤ زما لو ر ته ... که کاته مې مخامخ له یو دېوال

هله پوه شوم چه فکر مې راغو نډ کړ

یو تصویر ؤ په دیوال کښې د اقبال

ښاغلی مولانا خادم:

# اقبال ته خطاب

ځنګه په مشرق نن در نړا او تیارې جنګ دی
ولې دفلك ګرېوان په وينو باندې رنګ دی

غلی په طلسم دتیارې دی هر بلبل د باغ
زړه دهرانسان لکه غوټۍ له غمه تنګ دی

نشته دی نغمې دزړ کوچېرې په راغونو کښې
نه دچا په غوږ کښې د نسیم در باب شرنګ دی

لکه بې اسرې چه هر یو ژاړی پټ له ځان سره
ستورو دمشرق هر یو پرې ایښی دبل ځنګ دی

ډوب په آه و اوه کښې لمرخاته دی سرترپا په اوس
پروت په هر زړه باندې دا دبار دتیارې زنګ دی

ځکه چه لویدلی دمشرق لمر د اقبال دی
خړ، آسمان دفن ودا دب اود کمال دی

ای اقباله! ستا په غم کښې ژاړی مسلمان ټول
چین ترشام وروم ته ترکیه هندوافغان ټول

ته تما می عمر ژړېدلی دامت په غم
ځکه دی قوم نه ستا په تلو باندې ګریان ټول

مراوی لاله زار دی دخلیل تازه په اوښو کړو
مه وچوه ستر ګې چېری وچ نه شی ګلان ټول

بیادې هېر سبق امت یاد په زېرو زور کړلو
ودې ښوده دوی ته محکمات دښه قرآن تول

پیټی ووړ رانه اومنزل لګاه لرې بېحده وه
ستا، سوو نغموښه دمه لودی که، کاروان تول

پاتې چه سید، شبلی، حالی څخه ؤلاره کې
تاهغه بارونه کړه اوچت په یوه ځان تول

مخکښې لېږ منزل دی چه ئې پری نېږدې په لار کې
دا سې لار بلدی هېڅوك نشته په قطار کې

تاچه مخ کړویټ او په خندا لاړی مولی لره
اوس به نو، رهبردخو دی دڅوك شی ایشیالره

پور ته د کوشش په نغمه ستړی د تقدیر کړه
داقدرت در کړی دی خاوندیوازی تا لره

نن له بغاوت د عقله ویره په حرم کښې ده
جنګ دولایت دعشقه فوج که دې بلالره

شعرو فلسفه تاریخ دې کښ کړه په حکمت سره
جوړه دی نسخه کړه تر ښه ملت بیضالره

ای دژوند حکیمه !زړه دی دك ؤ دبشر په غم
تا پیام راوړی تمامی واړه د نیا لره

شرق وغرب دې مخکښې دیوی منډی میدان ؤ
ځکه دی نظر تل په حصار د کهکشان ؤ

بناغلی بیتاب ملک الشعراء:

# علامه شرق

مرد آزاده داکتر اقبال — آن بهی‌خواه قوم درهمه حال
تا که جان داشت گفت آزادی — تا دم مرگ خواست استقلال
غیر خدمت برای همنوعان — در سر او دگر نبود خیال
خامهٔ او چو صور اسرافیل — روح معنی دمید در اجیال
با غم قوم خاطرش توأم — در وطن دوستی نداشت مثال
بر سر حق قوم با اعدا — همه اوقات داشت جنگ وجدال
پی تامین وحدت ملی — عمر درباخت آن ستوده خصال
اندرین ره کشید زحمتها — گشت سیمای بدر او چو هلال
ثمر سعی او بود که شده — ملکش آزاد بعد چندین سال
کاش بودی حیات تا دیدی — آخرین آرزوی خود اقبال
این زمان فرد فرد پاکستان — هست ممنونش از نساء ورجال
یاد و بودی ازو کنند مدام — ننمایند زین مرام اهمال
بلکه این نوع شخص ملی را — عالمی قدردان بود بکمال
قوم افغان که فطرةً هستند — جملگی دوستدار استقلال
مسلکاً دوستدار او باشند — زو ستایش کنند درهمه حال
روح این مرد دائماً خواهند — شاد وخرم ز ایزد متعال

ازبرایش بهشت ازدر حق
همچو بیتاب میکنند سوال

ښاغلی الفت :

# داقبال وير

دادب په ماڼۍ ولوېده غدۍ نن
داقبال له سره پرېوته خولۍ نن
نن په شرق د مصيبت سېلاب راغلی
دادب په باغ و بڼ وشوه ږلۍ نن
فلك بيا په زړو نو کښېښوده داغونه
بيا هر چا په زړه خوړلې ده ګولۍ نن
په مرور د زماني به هضم نشي
چه له دې غمه چا کړې ده مړۍ نن
داقبال غم رېږوي نن هغه زړونه
چه به ځای په ځای ولاړ ؤ لکه غرونه

ښاغلی محمد ابراهیم خلیل:

# به یاد علامه محمد اقبال

بیار باده که محفل بنام اقبال است — بنام روز جهان احتشام اقبال است
چه باده، بادهٔ پرزور عشق آزادی — که وصف آن همه جا در کلام اقبال است
پیاله گیر که تبلیغ دین و حریت — به قلقل لب مینا و جام اقبال است
بیا که ملت اسلام و کافهٔ مشرق — رهین نشهٔ جام مدام اقبال است
بیا که دوستی قوم و ملت کهسار — بهر نکات و حروف پیام اقبال است
بیا که خطهٔ ما قلب آسیا موسوم — بسلك نظم حقیقت نظام اقبال است
خطاب ملت پښتون عقاب روئین چنگ — ز فکر صائب و عقل تمام اقبال است
بهوش باش که غصب حقوق هر قومی — خلاف رای صواب التزام اقبال است
بیا که ملت پښتون و هند و پاکستان — اسیر غیر نبودن، مرام اقبال است
بیا که باده عرفان و گردش ایام — کنون بنزد حقیقت بکام اقبال است
بیا، بیا که ز بوی گل بهار مراد — بچار فصل معطر مشام اقبال است
بیا که فلسفه و منطق و سخندانی — بهر یك از اثراتش بدام اقبال است
زمهد تا بلحد خوب گفت و خوب نوشت — که آنهمه بجهان فیض عام اقبال است
بیا که گرچه ته خاك رفته بر سر خاك — بهر کجا سخن از احترام اقبال است
بقول خواجه بفحوای حکم زنده دلی — رقم بصفحهٔ عالم دوام اقبال است
خطا بود که خطابش کنیم لاهوری — که قلب مردم عارف مقام اقبال است
در اختتام هدایای مغفرت زخلیل — بجسم نامی و جان گرام اقبال است (۱)

(۱) دا نظم د اقبال دهغې یادونې په مجلس کښې ویل شوی چه په ۱۳۳۱ کې د مطبوعاتو له خوا د اقبال د کالیزې په مناسبت په مطبوعاتو کې جوړ شوی ؤ.

## ماخذونه

۱ـ مسافر — دعلامه اقبال

۲ـ پس چه باید کرد ای اقوام شرق — » »

۳ ـ پیام مشرق — » »

٤ـ جاوید نامه — » »

٥ـ سیرت اقبال — دایم ای محمد طاهر فاروقی

٦ـ دخوشحال ختك دیوان

۷ـ خوشحال ختك څه وائی ؟ — دبینوا

## یادونه

ښاغلی فضل محبوب مجددی ددې کتاب دلیکلو دپاره ماته څه کتابونه راکړی وو او ښاغلی مولانا خادم داردو اشعارو په ترجمه کښې مرسته کړی ده، دوی نه شکر په وړاندې کوم.

PROPERTY OF ACKU 4712

د پښتو ټولنې پرله پسې لمبر (۱۲۲)

# پښتانه د اقبال په نظر کښې

لیکونکی : عبدالله "بختانی"

د ترجمې د څانگې له خوا

مصحح او مهتمم : راز محمد ویس

د مرغومي میاشت
۱۳۳۵

چاپ شمیر (۱۰۰۰) جلد

خودي، خودشناسي او خودبيني که د فرد د پاره ښه نه وي د جماعت د پاره ډېره ګټوره معلومېږي. او ملتونه په همدغسې احساساتو ژوندي دي. ځينې صفات شته چه د يوه شخص د پاره عيب وي مګر د يوه ملت د پاره حسن وي لکه ملي غرور چه د اجتماعي جنبې په پيدا کولو د ستاينې وړ بلل کېږي علامه اقبال د يوه ملت د پاره ځان منل او ځان کتنه ډېره ښه ګڼله او د خودۍ درس ئې ورکول.

مرحوم اقبال د پښتنو په خټه او فطرت کښې څه ليدل او دغه قوم ته ئې ډېره لويه هيله درلوده ځکه ئې دوي له نورو نه ډېر ستايلي دي او دوي ته ئې خپلې زياتې هيلې ښکاره کړيدي. د ده د شرق د نهضت او د اسلام د اعتلاء په باب د اميد سترګې د پښتنو خوا ته نيولې وې او افغاني ملت ته ئې په ډېرې اعتنا کتل د همدې لامله د پښتنو مشاهير د ده په اشعارو کښې ډېر ياد شويدي او د دغه قوم ملي شهامت او شجاعت ته په درانه نظر کتل شويدي. ښاغلي بختاني ډېر ښه کار کړيدي چه دغه يادونې ئې د ده له آثارو راغونډې کړيدي او د يوه کتاب په صورت د پښتو ټولنې له خوا د ښاغلو پښتنو حضور ته وړاندې کېږي چه دوي هم د دغه حکيم او فيلسوف شاعر په نظر ځانته و ګوري او خپل حيثيت او مقام بيا بيا د هغه په نظر کښې ووينې.
پښتو ټولنه د دغه کتاب چاپول د ملي احساس په روزلو او پاللو کښې ډېر مؤثر ګڼي او هيله لري چه ښاغلي پښتانه به ئې په غور او دقت ولولي. د ښاغلي بختاني په کتاب د پښتو ټولنې له خوا يوه برخه له دې عنوان لاندې زياته شوه (اقبال د افغاني شاعرانو په نظر کښې) او دغه زياتوالي مفيد معلومېږي.

(ګل پاچا الفت د پښتو ټولنې مشر)